# خوشحال خان خټک
# او
# تاریخ نویسی

•

لیکوال

•

سیّد وقار علی شاه (کاکاخیل)
اسسټنټ پروفیسر ډیپارټمنټ آف
هسټری قائد اعظم یونیورسټي
اسلام آباد

•

یونیورسټي بُک ایجنسي
خیبر بازار۔ پېښور

وخت د پیری راغے خوشحالَ
لادِ په زړه دی دایو څو خیالَ
خیال د ننګونو خیال د جنګونو
خیال د دلبرو له خط وخالَ

•

# ترون

د هر مخه چاپه نوم
چه د خوشحال بابا
سره مینه لری.

•

( مطبوعه: ماسټر پرنټرز محله جنګی پېښور )

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم : خوشحال خان او تاريخ نويسي

ليکوال : سيّد وقار علي شاه (کاکاخيل)

د چاپ کال : نومبر ۱۹۹۲ع

د چاپ ښير : توکه

کاتب : خان بهادر "سُرچوال"

بيه : ۲۰ روپۍ



# خوشحال خان خټک
# او
# تاريخ نويسي

نننے دور لکه چه د ژوند په هر سطح او هر اړخ کښې نوي نوي زاويې پيدا کړي او په مخ مخکښې تګ کوي د غه شان په علم و فن کښې هم ډير نوي ميدانونه را پيدا کيږي، عالمان، محققان او نقادان په هغې د فکر و نظر اسونه زغلوي. زموږ د پښتنو خاوره چنيله د دنيا په يو ګوټ کښې پرته ده که څه هم فطرت او زوړ تاريخ ورته د سخاوت په سترګه کتلي دي خو نوي زمانې او د زمانے غيرو بادارانو ورسره انصاف نه دے کړے او د خپلو غرضونو د پاره ئې روستو پاتې او تياره کښې ساتلي ده خو، نمر په ګوته نه پټيږي،، زموږ پراخه شکلې د پټو خزانو نه ډکه او د ذهن او مېړو د خاوندانو تاټوبے پښتنخواه څوک تر ډيره هيڅ قسم پردے لاندے ساتلے نشي. او دادے نن پښتنخواه غزونې کوي او داسے ښکاري چه يوويشتمه صدۍ به د دے په تورو غرونو د خوشحالۍ د سحر پلوشے را خورے کړي.

موږ وينو چه زموږ نوي زلمي راپيدا شوي دي - او لا نوي به راپيدا کيږي - شکر دے چه د شروندهو ميدان کښې نوي زلمي په نوي ادا او نوي ولولې راڅرګنديږي - چه په دے کښې د علم او ادب غيره هم په ډکيدو ده او د علم وفن ډير واهم خونو ته زلمي متوجه دي - د دے زلمو په قطار کښې زموږ په وړاندے يو زلمے سيّد - وقار علي شاه کاکاخيل دے چه موږ او پلار او موږ ورته د مينې نه شيرين باچا وايو - د دے زلمي نوے ذهن دومره تيز او نه ستړے کيدونکے دے چه قام، د قام پښتنې طنه او علمي او ادبي جولۍ ترے ډير توقعات لري - يقين م دے چه د ده ذکاوت او همت به په دغه ميدان کښې زموږ ملي ارمانونه پوره کولو د پاره ښے توبے پيش کړي.

دلته د ده د ذهن او فکر د نورو مصروفياتو او د هغې د نتائجو د ذکر وخت نه دے - زما په وړاندے د ده د تحقيقي مقالو مجموعه د خوشحال تاريخ نوليسي پرته ده - ما دا مجموعه اولوسته - يو نوے کوشش دے - او د خوشحال د علم او ادب سمندر کښې ئے نوي غوټې وهلي دي - زما دا عادت نه دے چه په کتاب څوکر ښې ليکلو وخت کښې په لوستونکو خپله رائے او تاثرات ور او تپم ځکه زه د دے مضمونو د کاميابۍ يا ناکاميابۍ فيصله لوستونکو ته پريږدم - زه صرف دومره



وايم چه شيرين باچا د خوشحال بابا د آثارو په لوېئے بڼ کښې دوي ګلونو د لټون نوي دروازے پرانستي دي او د ځان په شان زلمو او راتلونکي نسلونو ته ئے لاره جوړه کړې ده - نو دا د ده د فکر د جدّت او د قلم د جرأت ثبوت دے او زه په دے ده ته - شاباش وايم - او دعا ورته کوم چه د زړه زور با د فکر پرواز او د قلم جوش دِ يے نور هم زيات وي چه د غه شان ډير نوي نوي او ضروري ضروري ميدانونو کښې کار اوکړي.

د خوشحال بابا تاريخ نوليسي ډيره شوره او وسيعه موضوع ده - باچا دا موضوع چيړلې ده - او د نورو او نورو تحقيق د پاره ئے نورې ليکوال هڅولي دي - زما يقين دے چه لوستونکي او ليکوال به د دے تحقيقي مقالو نه خوند واخلي او په دے موضوع به ډير کار ته کلکه ملا اوتړي - او دا به د وقار علي شاه د خوارۍ - قدر او تشکر وي.

که دا زما په دُعا کيږي

د مناګۍ کدوان دِ ګوري او نيسينه.

اجمل خټک

۲۴ - ۴ - ۱۹۹۲

# سریزه

دخوشحال بابا د شاعرئ په دا سے اړخ قلم پورته کړے دے چه تر ننه پرے لاچا کار ندے کړے - د پښتو دمحققانو دپاره لار په گوته کړے شوه او س دوئ پرے خومره زغل کوے شي دا هم ددوئ همت او مرانه ده ، د وسائلو د کمی په سبب یقیناً چه زه هیڅکله دا دعوئ نشم لرلے چه ځما دا لیکل به ډیر معیاری وی ولے بیا هم یو کوشش دے چه ما اوکړو دا او س د لوستونکو خوښه ده چه په کوم نظر ورته گوری-

زه دګران مشر د پښتو ژبے په ژوندو شاعرانو کښے ډیر لوئے انقلابی شاعر هم دخوشحال د کورنئ د نوموړی اجمل ختټك صیب ډیره زیاته مننه کوم چه ځما پدے کتاب باندے مخ چنلے ملغلرے او پیلے- د یونیورسټی بُك ایجنسی ،خیبر بازار پیښور ښاغلی فضل الله او انعام الله سره د نورو ورونړو هم د ستائینے وړ دی چه د حنیل عالم دوست پلار د خدائے بخښلی حاجی فضل منان نه پس هم دوئ د علم مغزمینه برقراره او ساتله- ډیره په ښه طریقه د وئ لګیا دی د پښتو غواه - پښتنو او د پښتو خدمت کوی- الله تعالیٰ



د ورته د دے اجر ورکړی.

سیّد وقار علی شاه (کاکاخیل)

اسلام آباد

# دلیکوال پیژندنه

سیّد وقار علی شاه د کال (۱۹۶۱ع) د جنوری د میاشتے په لسم تاریخ د نوښار ضلع په زیارت کاکا صاحبؒ نومی کلی کښے پیدا شو- د پیښور یونیورسټی نه ئے ایم. اے تاریخ (۱۹۸۳ع)، ایم فل. تاریخ (۱۹۸۶ع) او ایم اے پښتو (۱۹۹۰ع) او کړل، او ن صبا په قائداعظم یونیورسټی اسلام آباد کښے د پښتو غواه په سیاسیاتو پی ایچ ډی کوی.

د پیښور یونیورسټی د تاریخ په شعبه کښے ئے د پاڅه یوه کال استاذی کولو نه پس په کال (۱۹۸۶ع) کښے قومی اداره برائے تحقیق تاریخ و ثقافت اسلام آباد ته راغلو او د ریسرچ فیلو په حیثیت ئے کار شروع کړو د-

فروری کال (۱۹۹۰ع) نه دَ قائدِ اعظم یونیورسټۍ په شعبه تاریخ کښې د اسسټنټ پروفیسر په حیثیت کار کوی۔

سیّد وقار علی شاه د دې کتاب نه علاوه نورهم ډیر کتابونه او مقالې لیکلی دی۔ چه پکښې ځینې دا دی: مسلم لیګ ان دی این ډبلیو ایف پی (۱۹۴۷-۱۹۳۶) (زیر طباعت: انګریزی) آزادی کی تلاش (اردو)، پیر آف مانکی شریف اور انکی سیاسی جدوجهد (اردو)، افغانستان اینډ دی نارتھ ویسټ فرانټیر پراوینس (زیر طباعت: انګریزی)، اقبال او افغانستان (پښتو) او نورې ډیرې مقالې چه وخت په وخت په بین الاقوامی جرائدو کښې چاپ کیږی۔



بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

# خوشحال خان
# او
# تاریخ نویسی

لوئ خوشحال بابا د تورې او قلم خاوند، د پښتو او د پښتون ننګ ده۔ د ګردې پښتونخوا نه علاوه هم په دې نړۍ کښې کوم یو داسې قام نشته چه د لوئ بابا د نوم نه نه وی واقف۔ د هغه شخصیت یوه عالمګیر شخصیت دے او پکښې هرڅه یوه ځائ سره دی۔ د پښتو د شاعرۍ کوم داسې میدان دے چه بابا پکښې لاړ نه وی نه دے۔ د هغه نه مخکښې خو پښتو ینمګړې وه او د هغه د لاتګ سره پښتو هم د شروندو نه سیال شوه۔ بابا خپله وائ:

بندوبست د پښتو شعر ما پیدا کړ
کنه شعر د پښتو و غیر سیال
نه یې وزن نه تقطیع نه یې عروض و

دوه مصرع یې د خفیف بحر دوه طال

د غزل نه یې مطلع نه یې مقطع وه

نه صفت نه یې تشبیه نه یې مثال

مګو نه یې چه څوک یا په شاعري کړي

پښتانه یې پوهول ایزد متعال

د بابا په دیوان کښې عشقي، حماسي، اخلاقي، فکاهي او حکایوي شعرونه په مختلفو اقسامو موجود دي. یعنې غزلې، قصائید، رباعیات قطعات، مخمس، مسدس، مثنوي، ترجیع بند، غرض هر څه لري او د شروندانه په هر اړخ او هره خوا بنه عزیدلې دې؟

تاریخ دی نه هغې د شاعرۍ یوه داسې اړخ راحنیتې دې چه خلق یې لولي خو هر وخت ولې چاپرې غور او فکر ندې کړې. تاریخ نویسي یوه ډیر ګران فن دې ولې سړې چه د خان بابا په کلام کښې د. تاریخ نویسۍ ځینې نمونې او ګوري نو ګوته په خوله حیران پاتې شي. چه دا فن هم د خوشال بابا لاس کښې وو او نه صرف دا چه هغه پرې پوهیدو بلکه پوره پوره عبور یې پرې لرلو. د خان بابا په دې فن کتابونه لیکلې کیدې شي او یقیناً چه راتلونکي وخت کښې به پرې ضرور عالمانه کار کیږي، ولې د وسائلو د کمۍ په سبب نن دلته صرف د هغه د کلیاتو نه د تاریخ نویسۍ څو نمونې را اخلم او



بیا یې لنډ په تفصیل سره تاریخي جاج اخلم.

د مغل بادشاه اورنګزیب متعلق بابا د «ف» په پټۍ کښې په ۱۵۲ مخ کښې داسې وائي:

را معلوم شو د اورنګ عدل وانصاف

دده بنه مسلماني بنه اعتکاف

سکه ورونړه وار په وار واړه وژلي

پلار په بند کښې اچولې په مصاف[۳]

اورنګزیب بادشاه د شاه جهان مغل ځوئې وو. د شاه جهان څلور زامن وو. داراشکوه، شجاع، اورنګزیب، او مرادبخش دې څلورو واړو زامنو څه خوبۍ او ځینې خامۍ لرلې. داراشکوه د ټولو نه مشر، ډیر لوئې عالم او فاضل سړې وو. هغه پلار ولي عهد هم ټاکلې وو. هغه یوه آزاد منش شهزاده وه د دې وجې نه ډیر دشمنان هم پیدا کړې وو. د هغه د هندوانو سره بنه سلوک د شیعه ګانو سره مینه او ډیرو غیر اسلامي رسوماتو کښې دلچسپۍ اخیستلو په دربار کښې د ننه او د دربار نه بهر د هغه د دشمنانو شمیر سیوا کړې وو. شجاع یوه خوا یوه بهادر سړې وو. نو بل خوا کښې هغه بې حده زیاته شراب خوري د هغه د شمنه شوله. دا هم ویلې کیږي چه هغه شیعه شو او سنیان یې د خان دشمنان کړل

اورنګزیب په ورونړو کښې دریم نمبر وو. هغه یو چالاک خو مدبّر سیاستدان او د جنګ په رموزو پوه شهزاده وو. د دے ټول سره هغه پوخ سنی مسلمان وو. کشرځوئے د شاه جهان مراد بخش نومیده. هغه یو بهادر خو کم عقل ځوان وو. د سیاست په رموزو هیڅ نه پوهیده[4]. د شاه جهان پدے څلورو زامنو کښې د هغه د ناروغتیا په سبب د تخت نشینۍ جنګ په کال (۱۶۵۸ع) کښې شروع کیږی. بادشاه په یوه مرض داخته کیدو په وجه د تخت کاروبار نشو سنبالولے. زامن ئے په خپلو کښې لانده وتل. مشران دواړه یعنی داراشکوه او شجاع ځانځان ته وو او اورنګزیب او مرادبخش سره ملګری شول[5]، هسے خو شاه جهان په خپل ژوند سلطنت په خپلو زامنو تقسیم کړے وو. داراشکوه د پنجاب او شمال مغربی صوبے واکمن وو. بنګاله او اړیسه ئے شجاع ته سپارلی وه. اورنګزیب ته ئے دکن ورکړے وو او ګجرات ئے مُراد ته حواله کړے وو. د دے واکمنتوب وجه څلورو واړو شاهزادګانو قوت او پیسه لرله.

مغلو کښې د اول داسے خبره مشهوره وه. چه "بادشاهی خپلوی نه پیژنی" پدے باندے د مغولو مشرانو بابر، همایون، اکبر او جهانګیر ټه چه شاه جهان هم پرے عمل کړے وو[6]. اوس د شاهزادګانو



خپلو کښې د ورانے نتیجه د بهادرګړه (فروری ۱۶۵۸ع)، د هرمت (اپریل ۱۶۵۸ع)، او د ساموګړه (مئی ۱۶۵۸ع)، د جنګونو په شکل کښې اووته. پدے جنګونو کښې شاهی فوځ ماتے اوخوړه او دارا بندی کړے شو. نه یواځے دارا بلکه اورنګزیب چه داسے کړل چه شاه جهان هم د دارا ملګرے دے هغه ئے هم ورسره د اګرے په قلعه کښې بندیوان کړو. د هغے نه پس اورنګزیب د خپل پلار او مشر ورور سره هغه ناروا سلوک کړی. د کوم ذکر چه خان بابا خپلو اشعارو کښې کړے دے، هم په دے اشعارو کښې بابا د اورنګ زیب غندنه کړی او وائی چه که داسے بنده هرڅومره د ریا عبادتونه وکړی نو عبث دی ځکه چه "د اعمالو دارومدار په نیت دے" د هغه سری چه د چا په ظاهر او باطن کښې فرق وی د هغه متعلق بابا داسے وائی:

دی به لاړ یوه د زړه ئے بله
په چارو ئے شه جګرشګاف شګاف[7]

د اورنګزیب مثال د زهرو نه د ډک مار ورکوی، د زهرو نه ډک ماران اکثر په ظاهری شکل وصورت ډیر خوندناک او ښائسته وی، لکه چه خان وائی:

مار د تن د پاسه ښه ښائسته روغ دے

ولې ته اندرون لرې ناصاف[8]

او دا رښتيا هم ده ځکه چه کم سرې نظر واچوي نو ډير زړه ورېلا مالان په رنګ ډير ښائسته وي. مثال به ئې د کنډيري د مار واخلو. وينځه کيږي چه د کنډيري د مار څومره لې رغيدن نشته. ځکه چه دا و بر ښخبنلو وخت هم ور سره نه وي. ولې ظاهري شکل او صورت الله پاک دې مار ته ډير خوند ناک ورکړې دے اورنګ زيب هم لکه چه خان والي په ظاهره لوئې پرهيزګار، عالم او متقي وو ولې اندرون ئې تک تور وو. او زړه خوئې دا سې سخت چه نه خو چپل پلار ته د عزت په سترګه ئې کتل او نه پخپلو ورونړو زهير يدو.

دا خو تاريخي حقيقت دے چه د شاه جهان بادشاه مرګ ډير په قابل رحم حالت کښې شوے دے. يوائځينې خواخوږې او همدردې چه بادشاه پدے آخري سختو ورځو کښې د ځان سره لرلو هغه د هغه مشره لور جهان آرا بيګم وه. دا شاهزادګئ په بند کښې خپل پلار سره لکه د خدمتګار و پرته وه. د هغه د سختو ملګرې وه. هغې د خپل پلار آخري خدمت ډير په راستئ کړے وو. شاه جهان د يوه بندي په حيثيت په کال (۱۶۶۶ع) کښې د (۷۴) کالو په عمر کښې د آګرې په قلعه کښې مړ شو. د هغه آخري رسومات هم ډير خراب



حالت کښې شوي وو. اورنګ زيب د خپل پلار د مخ کتو د پاره هم رانغلو او د مغلو کورنئ د دے لوئې بادشاه شاه جهان په دفن کښې بغير د خدمتګارو نور هيڅوک نه وو.(۹)

په ظلم کښې خوشحال بابا د اورنګ زيب مثال د هغه د مشرانو ورکوي. خپل کلام کښې دا سې غند نه کوي:

اورنګ زيب بې دليلَ! — په ظاهر باطن عليلَ
لکه ځې په انګبين کښې — پسو بند شوې په قليلَ
په تسبو کښې دِ بلادَه — هے توبه ستاله تهليلَ
د يوه صورت د پاره — خپل خانه دکړه قتيلَ
نه په حُويه نه په سپاريے — په هرچا بانديے بخيلَ
په دا هسے بے عدلئ — هلاکو سره عديلَ
بے له خدايه بل يو نشته — د خوشحال په ستهسيلَ(۱۰)

چرته چه څوك په دنيا کښې د زورزياتي او ظلم نوم اخلي نو د بنده په ذهن کښې فوراً د منګولانو ظلمونه راپه ياد شي. منګولان د دولسم پيړئ په آخر کښې د منګوليا او وسط ايشيانه راخواره شول او په ټوله مهذبه دنيائې د ظلم او بربريت داستانونه پريښودل.(۱۱)

د دوئ د مشر تموجن (چنګيزخان) نوم د طوفان او د سيلئ

نه زیات د هشت ناک وو- میندو به تر ډیرو مودو پورې چیل زامن د هغې د تش نوم نه ویرول- د چنګیز اولاد هم د هغه غوندې سفاک وو- په هغو کښې یو هلاکوخان وو- د دې ظالم د دیارلسمې پیړۍ په نیمائي کښې د مسلمانانو د تهذیب لوی مرکز بغداد فتح کړو او بیا یې د بغداد د خلقو داسې قتل عام اوکړو- چې د د جلې او به تر ورځو ورځو په وینو سرې بهیدې تر شپږو هفتو یې د ظلم او ستم بازار داسې ګرم کړې وو- چې بې مثال یې نښې موندې- په کوڅو کښې هم وینې بهیدې- تر دې چې ناروغ یې په هسپتال کښې هم پرې نه ښودل- د مسلمانانو یو قیمتي سرمایه چې د تاریخي عمارتونو په شکل بنه محفوظ وه- هغه یې اوسوزوله- نه یواځې دا بلکه جماتونه او محلونه یې هم راوغورځول- هرخوا یې د تباهۍ او بربادۍ یوه داستان پریښودلو- بغداد د علم لوی مرکز چې د مسلمانانو د سترګو تور وو، د اسلام د نزاکت څښتنه وه او د علم او د هنر ځائې وو، د ظالم هلاکو د لاسه ترعوه برباد کړې شو.[12]

په هند کښې د مغلو سرخیل بابر چې دلته د مغل سلطنت باني هم وو، د مور د طرف نه هم د دې ظالم چنګیز نمسی وو-[13] خوشحال خان بابا دلته هم د هغه د بابري کورنۍ د بل یوه غړي اورنګزیب مثال



لکه د هلاکو ورکوي- اورنګزیب چې به کله په سفر روان شو نو د عامو خلقو سره به یې په لاره هغه څه وکړل چې د هلاکو یاد به د خلقو تازه شو[14]- د مغلو سرکاري تاریخدان خافي خان دا په ډیر فخر سره لیکي چې څنګه خوشحاله مغلي لښکرو افغانانو ته ماتې ورکړه او د خلیر پیشت سره افغانانو سرونه د هلي ته واستولې شو- او هلته د اورنګزیب بادشاه په حکم د هغوئ د سرونو نه منارې جوړې کړې شوې-[15]

بابا چې لږ نور هم زړه ستړې شي نو وائي:

بل بادشاه نشته اورنګزیم عدل نه کا
که سبا بیګاه یې تل په دُبار ناړم[16]

د دې د تفصیل د پاره به موږ بیا لږ وروستو ځو- کله چې اورنګ زیب په تخت کښیناستو نو د خلقو د زړونو کېتو د پاره پرې ډیر احکامات جاري کړو- د نورونه علاوه یو پکښې د راهدارۍ- ټیکس ختمول هم وو- د دې سره سره یې په ګودرونو هم ټیکس ختم کړو- د دې غټه وجه یوه دا هم وه چې د ډیرو خلقو فصلونه او جائیدادونه د شاه جهان د زامنو د تخت نشینۍ په جنګ کښې تباه شوي وو[17]- هغه خلق اوس خوشحالول پکار وو- ځکه چې اورنګزیب بادشاه لکه چې او ویلې شو په خپله چالاکۍ او

سیاست دانئ د هند واکے په لاس کړے وے۔ او هرکله چه خلق
ئے خلاف وے نو بیا خو په ملک حکومت کول ناممکن وو۔

د اورنګ زیب بادشاه دے فرمان لکه د نورو علاقو په
پښتونخواه کښے هیڅ اثر ځکه اونه غورزولو چه دلته دا ټیکس خو
پخوا اخستے شو ولے څه موده پس د میرزا عبدالرّحیم چه د پیښور
حاکم وو، د هغه په وینا بادشاه دلته دا ختم کړو۔[18] د اکبر
بادشاه د وخت نه دا حق ملک اکوّ چه د خوشحال خان غړنیکه
وو هغه ته ورکړے شوے وو چه د شاهی لارے د څوکیدارئ
ټیکس د اخلی۔ د هغه نه پس د هغه اولاد ته هم دا حق حاصل وو
ولے د بهاکوخان په مرسته میرزا عبدالرحیم دا څیز ختم کړو۔
خوشحال خان که مرڅو د دے څیز مخالفت په زړه کښے کولو هم ولے
په ښکاره ئے اظهار اونکړے شو۔ هم دے میرزا عبدالرحیم د کابل
واکدار امیرخان خوافی ته هم ویلی وو چه ترهغے پورے ستا واک
او اختیار نه منل کیږی ترڅو چه د دے علاقے څه لوئے زمیندار
بندی نکړے (هغه وخت پیښور د کابل ولایت لاندے راتلو)
د هغه اشارے د نورو نه علاوه د خوشحال خان متعلق هم وه۔
امیرخان د اورنګ زیب نه دا اجازت واخستو۔ چه د ستا د حکم
نافذ کیدو د پاره دلته د څه زبردستئ هم ضرورت دے۔ بادشاه



اجازت ورکړو۔ دے چه واپس پیښور ته راغلو نو ورومبئ ئښه
ئے د کابل د زوړ والی مهابت خان ملګری وو۔ چه خوشحال پکښے
د ټولو سرخیل وو۔ هغه ئے د ملاقات په بهانه پیښور ته اوغوښتو
او هلته ئے بندی کړو۔ په دے سازش کښے ورسره د خوشحال
خان دوه ترونه بهادرخان او فیروزخان هم شامل وو۔ هغوئ
دده په ګرفتارئ خلعتونه او امبارکئ واخیستے۔[19] خوشحال په
بیړه ترلے د دهلی په لور د بادشاه حضور ته روان کړے شو
د هغه د بادشاه نه پوره یقین وو چه هغه به د خوشحال د
پلار نیکه هغه زړه وفاداری یادوی او د هغه سره به پوره
پوره انصاف کوی۔ لیکن د خوشحال یقین دړې وړې شو[20]
بادشاه حکم ورکړو چه خوشحال بندی کړئ او دده بال بچ
بطور یرغمال د دهلی ته راوستلے شی۔ لوئے خان د خپل ترونه
دوه نیم کاله د هلی او د جےپور ریاست په رنتهمبور کوټ
کښے تیر کړل۔ بیا اګرے ته راوستے شو۔ او د بنده خلاص کړے
شو۔ ولے د ده د کړاو ورځے لا خلاصے نه وے او دے ترکال
(۶۹ - ۱۶۶۸ع) پورے د خپل وطن نه لرے په هند کښے اوساتلے شو۔[21]
په دے پورتنی اشعار وکښے هغه د اورنګ زیب هم د غږلے وفائ
ستائیلی ده او ښکنده کړے ئے ده چه د مغلو د پاره د خوشحال

د مغلو وینې په هندوستان او بدخشان کښې بهیدلې وې او داخو
لا پرېږده چه څېل پښتون ورورې هم د مغلو دپاره تل عمر
وهلې دې. اوس چه وخت پرې راغلو اورنګزیب ترې نه
داسې سترګې واړولې چه ته به وائې چه هډو خوشحال پیژنې نه.

د دې نه پس خوشحال خان تر ډېره موده پورې د مغلو سره
جنګېږي. هغه ډېره کوشش اوکړو چه پښتانه په اتفاق سره
د مغلو خلاف را اوچت کړي او په دې کښې تر ډېره حده پورې کامیاب
شوې هم وو. ولې ډېر زر د پښتنو د بې اتفاقۍ د لاسه تنګ شو
او بیا یې جار جار ژړلي او ویل:

که په ټوله خلقو کښې ښه سړي موندې شي
ولې ښه سړي به لږ وي افغانان
که څوک ورته د پند خبرې وائي
د پلار پند یې هم ښه نه لګي په ځان
هوښيار د پښتانه تر مغل ښه ده
اتفاق ور سره نشته ډېر ارمان
د بهلول او د شیرشاه خبرې اوره
چه په هند کښې پښتانه وو بادشاهان
شپږ اوه پیړۍ یې هسې بادشاهي وه



چه په دوئ پورې درست خلق وو حیران
یا هغه پښتانه نور وو داځه نور شول
یا د خدائ دې اوس داهسې شان فرمان
که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دوباره شي په دا ځوان (۲۲)

د پښتنو مشرانو په کمزورو نورو خصوصیاتو کښې یوه صفت
داهم دې چه کله په رشتیا وسیلو راشي نو بیا څېل ځان هم نه
پرېږدي چه څېل کشران مشران او پردي خولا پرېږده. هم دغه
شان چه بابا هم کله خپلو ته په بدو ردو راغلې دې نو بیا مصلحت
او د وخت ضرورت هرڅه نه بې پرواه داسې ستغې سپورې او
ترخې خبرې کوي چه ډېر خلق پرې خفه هم وي ولې هغه خو په
رشتیا وسیلو نه د چا پرواه کوي او نه د چانه ویره. نه هغه
د دنیا جاه وحشمت دپاره چاته لاس نیولې دې. نو بیا ځکه خو
هر هغه څه ویلې شي چه څه یې په خوله راغلي دي. پډ شعرونو
کښې هغه د پښتنو هغه کمزورۍ په ګوته کړي دي کوم چه په
هغو کښې موجود وې. د اکمزورۍ د ننه په زرګونو کلونو
هم وې او نن هم دي. خان بابا ښه په صفا وائي چه پښتانه یو
داسې قام دې چه د نصیحت خبرې که پلار هم ورته کوي نو هغه

سړے تعلق لرلو۔ د جنګ د سامان د سوداګرئ په غرض ملتان ته راغلو لکه د ډیرو نورو پښتنو هغه سره دچلو۔ وروښرو د ملتان دوالی ملک مردان دولت چه د ملک الشرق نصیرالملک په نوم ئے شهرت لرلو سره نوکرشو۔ داملک الشرق سلطان فیروزشاه تغلق د منګولانو دحملو دتدارک دپاره ساتلے وو۔ د ملک بهرام په مرګ د هغے پنځه زامن ملک سلطان شاه ملک کالا۔ ملک فیروز، ملک محمّد او ملک خواجه هم هلته په ملتان کښے میشته شول۔ په دے دوران کښے د ملتان واکمنی هم په ډیرو لاسونو کښے واوښیده او په آخر کښے ملک خضرخان چه د سیّد خاندان مشروو په لاس راغله۔ پدے دوران کښےکوډ تیمور په هندوستان یرغل اوکړو۔ خضرخان دګوډ تیمور مرسته۔ اوکړه۔ او ددے ملګرتیا په انعام کښے هغه ورته د ملتان او د پنجاب واکمنی ورکړه۔ سلطان شاه لودی په خپله میړانه ډیر زر د سیّدخضرخان په دربار کښے ځان ته دعزت مقام پیداکړو هغه ورته د اسلام خان خطاب ورکړو۔ او د سرهند جاګیرئے هم ورته په انعام کښے ورکړو۔ د اسلام خان نورو وروښرو ته هم جاګیرونه په لاس راغلل۔ ملک کالاته ئے دَ دوړالا (میرټ) جاګیر ورکړه۔ کالاچه خپل جاګیرته د بندوبست دپاره تلو نوځان

پرے سبنہ نہ لګی - ځکہ چہ پښتون خو یوه دا سے قام دے چہ په ژړی لئے کښے جنت تہ بوځے نو هم دہ سره نہ ځی - اوکه په رضائے دوزخ تہ بیایئ نو دہ سره په خوشحالئ روان دے - خان والئ چہ کوم سری باندے چہ د پلار نصیحت هم بد لګی نو هغہ به بیا د نوړ چا سمه حبره څه اومنی - د داسے بنده نه بیا د هیڅ قسم کیله کول ندی پکار - پښتون چہ ازمایئلے سپاهی دے په غزاګانو او جنګونو کښے ئے د مړانے داستانونه لیکلی شوی دی دے دمغلو نه په هرڅه ډیر اوچت دے ولے واحد نقصان چہ د ده دتباهی سبب شوے دے او خان ئے په ګوته کوی هغه په خپلو کښے ددوئ بے اتفاقی ده - مغل څه د پښتنو نه په خصوصیاتو کښے اعلیٰ خو ندی ولے اتفاق ور کښے موجود وو - نو ځکه خو هغوئ خپله ګټه سنبالہ کړے شوه نه چہ د پښتنو غوندے چہ ګټه خو وکړی ولے بیائے د سنبالولو چوکه نه وی -

بابا د مثال په توګه د پښتنو دوه نومړی بادشاهان بهلول لودی او شیر شاه سوری یادوی - بهلول د لودیانو د کورنئ یوه نومړے بادشاه وو - د هغه د پیژندګلو د پاره تاریخ پانړے اړول ضروری دی - د خوارلسے پیړئ په آخری کلو کښے د بلوټ (ډیره اسمعیل خان) یوه پښتون ملک بهرام چہ د غلزو د شاهو خیل خانګے

سره یې خپله ناروغه ښځه هم بوتله ـ هغه ښځه یې د څپر د پریوتو
په حادثه کښې په کال (۱۴۱۱ ع) کښې مړه شوه ـ د هغې د مرګ په وخت
ملک کالا هلته موجود وو ـ هغه د طبیبانو په وینا چه ماشوم د مور
په ګېډه کښې ژوندے دے ـ د هغې خیټه په چاړه اوشلوله او ماشوم
یې ترې نه ژوندے را اوویستو ـ هم دا بے موره ماشوم د بهلول
په نوم د دنیا کښې شهرت اوموندلو ـ لږه موده پس د بهلول پلار
هم په یوه جنګ کښې مړ شو ـ بهلول بے موره خو وو چه اوس
بے پلاره هم شو ـ هغه د خپل تره اسلام خان کره پالنه شروع شوه
دے بې پلاره بې موره وراره ته اسلام خان خاص توجه ورکړه
او دے چه لوئے شو نو خپله لور شمس خاتون یې ورته په نکاح
کښې ورکړه ـ د خپل مرګ (کال ۱۴۳۱ ع) په وخت اسلام خان
بهلول د خپل ټول میراث وارث پریښو ـ لکه چه د پښتنو خاصه
ده د اسلام خان خوږی قطب خان او ورور ملک فیروز خان
د بهلول مخالفت اوکړو ـ بهلول ډیر زر فیروز په ګټلو کښې کامیاب
شو ـ هغې د بهلول په طرف شو ـ قطب خان د دهلي ته لاړو او
هلته یې محمد شاه بادشاه ته اوویل چه ته راشه او پښتانه
د سرهند نه اوشړه سلطان محمد شاه د جسرت کهوکهر او ملک
سکندر تحفه د مشرئ لاندے یوه فوځ د پښتنو خلاف واستولو

Bahlol: birth 1411 AD



پښتانه پدے مجبور شول چه غرونو ته اوتښتي ـ ملک فیروز یې
په دهوکه اونیوه ـ د هغه زوے شاهین خان یې اووژلو ولے ـ
بهلول خدائے تعالیٰ بچ کړو ـ د شاهي فوځ پنجاب ته په ستونیدو
باندے بهلول راکوز شو او د خپلو ملګرو او خواخوږو فوځونو یې
جوړول شروع کړل ، ډیر زر بهلول په پنجاب باندے چپاو نه
شروع کړل ، پدے دوران کښې ملک فیروز هم د دهلي نه په تښتیدو
کامیابه شو او بهلول ته یې ځان راورسولو ـ قطب خان هم خپله
غدارئ پښیمانه شو راغلو او د بهلول سره ملګرے شو ـ بهلول په
زر سرهند ونیو ـ سلطان محمد شاه اوس د روغې کوششونه
شروع کړل ـ هغه سرهند د جاګیر په طور بهلول ته ورکړو او سپارلو
هغه د بهلول په وینا خپل یوه وفادار وزیر حسن خان اووژلو
ډیر زر یې بهلول دهلي ته راوغوښتو او د خپل فوځ مشري
یې ورته پغاړه کړه ـ بهلول ته یې د خان خانان خطاب هم ورکړو
د سرهند سره سره یې د لاهور او دیپالپور جاګیرونه هم ورکړل
په کال (۱۴۴۵ ع) کښې سلطان محمد شاه مړ شو او د هغه زوے
علاؤالدین په تخت کښیناستو ـ خان ته یې د "شاه عالم" خطاب
خوښ کړو ـ ولے د خپل نوم نه برعکس هغه یو کمزورے بادشاه
وو ـ او ډیر زر امیران او وزیران خود مختاره شول ـ د سلطان

علاؤالدین بادشاهي د دهلي نه کېنچاپېر تر شلو میلو پورې پاتې شوه او دا متل د هغه په بادشاهۍ پورې مشهور شو:

بادشاهي شاه عالم است    از دهلي تا پالم است

شاه عالم لږه موده کښې په دې مجبور شو چه دهلي پرېږدي او په بداېون کښې مېشته شي. د هغه یو چالاک وزیر چه حمید خان نومېده په دهلي قبضه اوکړه. بهلول هغه وزیر کوښ کړو او په (۱۹) د اپریل کال (۱۴۵۱ ع) باندې ئې دهلي اونیو. هغه یو ډېر هوښیار سړې وو. د قابلیت نښانې پکښې د ډېرو کوالۍ نه څرګندې وې. هغه صرف په دهلي قناعت اونکړو د علاقې فتوحاتو اراده ئې هم لرله، هم په کال (۱۴۵۱ ع) کښې هغه د ملتان د فتح کولو په نیت روان شو. لا په لاره وو چه خبر شو چه د جونپور بادشاه سلطان محمود شرقي د دهلي محاصره اوکړه. د دهلي په قلعه کښې هغه وخت سیوا د یو څو پښتنو زنانو (ښځو) نور هیڅ څوک نه وو. د پښتنو زنانو چه د زړونو په ټینګ ولاړې وې هغه وخت دېلي متوجه د بهلول خواښې او چاچه ده ډېرو زنانو ته د نرانو جامې واغوندولې او د قلعه د حفاظت د پاره ئې اودروله. بل طرف ته هغې د جونپور د فوځونو مشر دریا خان لودهي سره رابطه اوساتله. او دا



پېغور ئې ورته ورکړو چه ته ټینګ پښتون یې چه هم د پښتنو عزت شکوې. دریا خان په قلعه فتح کولو کښې حیلې بهانې شروع کړې بل خوا بهلول لودهي چه دا واورېدل نو پښتنو مشرانو ته ئې وطن ته خطونه واستول چه په څه طریقه هغوئ د خپل پښتنۍ غیرت د حفاظت د پاره د بهلول مرسته اوکړي.[۲۳] بهلول یوه خط کښې په تفصیل سره دا اووئیل چه «خدائ تعالیٰ په خپله مهربانۍ سره د ډیلي تخت پښتنو ته سپارلے دے. د هند نور باچایان دا غواړي چه دوئ د ملک ورک کړي او د دوئ د زنانو بې عزتي اوکړي د هند مزکه ډېره زرخیزه ده. او د ډېرو تېرو د آبادۍ باعث کېدے شي. د دې د پاره راشئ. د مشرئ نوم به (حما بهلول لودهي) وي خو نور هر څه که سپوږ وي که تږه سره به لکه د ورونړو په شریکه وي. سلطان محمود د جونپور نن صبا د ډیلي محاصره کړې دے. ملتان کښې د پښتنو کډې هم دي. که تاسو دا وخت په پښتنو ننګ کول غواړئ نو د خپل طاقت سره راشئ»[۲۴]

کله چه پښتنو د بادشاه د خولې دا واورېدل نو په ګڼ شمېر کښې ئې هند ته راتلل شروع کړل، هره ورځ، هره میاشت او هر کال د دوئ تعداد زیاتېدو. دوئ ته په هند کښې زړه پورې جاګیرونه ورکړل شو.[۲۵] دوئ ته اعلیٰ منصبونه هم ورکړې شول او داسې

بهلول‌خیل لوظ تر سره کړو۔ هغه د هغو پښتنو سره د برابرۍ په اصولو۔ ښوند تیرولو۔ کله چه به څوک پښتون مشر د هغه نه زړه بدے شو نو هغه به بطور د جرګے ځان سره څه نور سپین ږیري مشران وروستل هغه کره چه به اوږ سیدل نو خپل پټکے به ئے د سرنه کوز کړو۔ او ورته به ئے اوویل چه که ته نور څوک ځما نه قابل دے سند دپاره ګنړے نو ځما پرے هیڅ اعتراض نشته۔ هم هغه د پښتنو مشراوتاکه۔ هغه سړے به خپله پدے پښیمانه شو بهلول به د دوئ سره په یوه ځائے ناسته پاسته کوله۔ هغه نه خوچرے د هغوئ نه په ښه سوړلئ سوږ شوے وو۔ او نه ئے د هغوئ ځان په وړاندے چرے پریډ کړے وو۔ په رښتیا بهلول په حیث دیوه پښتون بادشاه د ټولو پښتنو دپاره یوه مثال قائم کړو[۲۶]۔ بهلول په هندوستان اته دیرش کاله اته میاشتے او اته ورځے حکومت اوکړو[۲۷]۔ د هغه په وخت کښے خلق خوشحاله وو او لکه چه اوویلے شو د پښتنو دپاره دیوه سرخیل مثالی بادشاه په حیث ئے ځان ته مقام جوړ کړو۔

د بهلول لودهی سره چه لوئے خان دلته بلکوم بادشاه یاد کړے دے هغه شیرشاه سوری چه خپل نوم ئے فریدخان وو دے د شیرشاه نیکه ابراهیم خان د بهلول لودهی په بلنه هند ته تللے وو.



هغه ته په بنګاله کښے سهسرام نومے جاګیر ورکړے شوے۔ وفات د هغه په مرینه هغه جاګیر د هغه ځوئ حسن خان ته په وراثت کښه پاتے شو۔ پنځلسمے پیړئ په آخری کالو کښے دے حسن خان کره یوه فرزند پیدا شو چه نوم ئے پرے فریدخان کیښود۔ د فرید خان مور په وړوکوالی کښے مړه شوه۔ حسن خان بل واده اوکړو۔ فریدخان د میرنئ مور د لاسه ډیر زر کوره کلے وطن پریښودو باندے مجبور شو۔ هغه لاهور او د جونپور والی جمال خان سره نوکر شو، څه موده پس د هغے ځائے نه دولت خان لودهی ته آګرے ته لاړو۔ د هغے پس چه بابر مغل پښتنو ته د پانی پت په لویه ډاګه کښے ماتے ورکړو نو فریدخان د جنید برلاس مغل سره نوکر شو، هغے د بابر سره څه وخت چه چندیری کښے تیر کړو او په لږه موده کښے ئے د مغلو د جنګ طریقے زده کړے۔ اکثر به هغه خپلو ملګرو ته ویل چه که وخت او بخت راسره ملګرتیا اوکړه نو ډیر زر به زه مغل د هند د خاورے نه ورک کړم، ولے چه مغل په توره او مردئ کښے د پښتنو نه څه تکړه خوندی۔ دوئ د پښتنو نه میدان ځکه اوګټلو چه هغوئ خپلو کښے پرے جنبے وے ګنی په زور مغل د پښتنو نه تخت نشو ګټلے۔ ما چه څه موده د مغلو سره تیره کړه نو پدے پوه شوم چه نه پکښے توره شته او نه

پکښې نظم او ضبط شته۔ د دوئ باچایانو د حکومت کاروونه خپلو امیرانو او وزیرانو باندے سپارلی دی او خپله ئے د ناراستۍ د لاسه د حکومت کار ته شا کړے ده۔ ډیر زر به خلق په حیرانتیا سره واوری او اوګوری چه څنګه زه پښتانه په یوه مرکز بیا را-غونډوم او دوئ د واک او اختیار خاوندان کوم او مغل د هندو-ستان نه شړم[۲۸]۔

په کال (۱۵۳۹ع) کښے د چوسی جنګ اوشو۔ مغلو ماتے اوخوړه۔ ډیر په جنګ کښے مړه شول۔ همایون بادشاه یو مشکی په خپل مشک باندے د ګنګا د سیند نه پورے ویستو۔ د مغلو اکثر فوځ یا اوبیوړے شو یا په سیند کښے لاهو شو۔ د دے لوئے فتح نه پس فرید خان د شیرشاه په نوم سریر کښیناست او د شیرشاه عادل په نوم ئے حکومت شروع کړو۔ یو کال پس د کال (۱۵۴۰ع) د مئ په اوولسمه نیټه د قنوج جنګ اوشو۔ او دے جنګ د مغلو په قسمت آخری ټاپه اولګوله[۲۹]، همایون د هند نه په تیښته لاړ او د هندوستان نه لرے د شاه طهماسپ صفوی د ایران د بادشاه په دربار کښے ځان ته ځائے پیدا کړو۔ شیرشاه په تخت ډیر لږ ناسته اوکړے شو او پنځه کاله پس د کالنجر په محاصره کښے سخت ژوبل شو او د هغه نه اومړو[۳۰]۔ د هند په تاریخ



کښے د پښتنو د اعزت مند مشر شیرشاه یو داسے بادشاه تیر شوے دے چه د هغه په عدل و انصاف نن هم پښتانه نیازیږی[۳۱]۔ د هغه په وخت هند ډیره ترقی اوکړه۔ د خلقو د آرام د پاره چه هغه کوم کارونه کړی دی هغه د چا نه پټ نه دی۔ لوئے لوئے سړکونه، ځائے په ځائے سرائے، په لویو لارو کښے کوهیان، غرض د هغه وخت سره چه کوم آرام او سوکالی هغه خپل رعیت ته ورکړے ده تر ډیره مودے پورے د بل بادشاه د لاسه د هند د خلقو نصیب نشوه، په تیره تیره د عدل او انصاف محکمے د مظلومانو فریادونه تر بادشاه رسیدل او ظالمانو ته موزونه او مناسبه سزا ورکول داسے ژوندی څو مثالونه دی چه د ټول پښتون قام پرے سترګے اوچتے دی۔ د شیرشاه په بادشاهۍ کښے د هندو او مسلمان په مینځ کښے هیڅ فرق نه دے ساتلے شوے۔ هغه خپل ټول رعیت ته په یوه شان کتل۔ که هندو وو که مسلمان د مذهب او نسل د امتیاز نه بغیر به هغه سره پوره پوره انصاف کیدو۔ لوئے لارے ټولے د شوکمارو نه بچ ساتلی شوی وے۔ د غلاګانو او ډاکو به ډیرے غټے سزاګانے ورکیدلے شوے۔ د کوم زمیندار په علاقه کښے چه به غلا یا ډاکه اوشوه د هغے ذمه دار به هم هغه وو او که هغه به د غلو په نیولو کښے ناکام شو نو بیا به سزا هم هغه ته ورکیده۔ د

هغه وخت داخبره ډیره مشهوره وه، چه که یوه بوډۍ دشیرشاه په باچاهۍ کښې د سروزرو ډک پنډ په سر روانه شي نوځپل منزل ته به په خیر وخیریت سره اورسي. هغه مغل لیکوال چه ددوه دشمنان هم دي هغوئ یوه خوا که دشیرشاه د انصاف قائله دي نو بل خوا داعم مني چه دهغه په باچاهۍ کښې دامن وامان دوره دوره وه، هرخوا سوکالي اوخوشحالي وه۔(۳۲)

نو دلته خوشحال ځپلو شعرونو کښې د پښتنو داسې مثالي بادشاهان یادوي او وائي چه یا خو هغه پښتانه چه دبهلول او دشیرشاه په وخت کښې اوچتې سترګې کړجيدل څه نو ځنګه و او یا اوس داسې وخت راغلو چه پښتنو هغو مغلو ته سرټیټ کړې دې کوم چه ددوئ د پلار نیکه دلاسه ټول عمر په زلزله وو بابا وائي چه داسې ښکاري چه دا پښتانه د هغو زوزات ندي اوکنه هم د هغو اولادوي نو بیا به اوس دلوئ خدائ دارضا وي چه دوئ د بې عزتۍ او بې قدرۍ ژوندون تیرکړي.بابا دوئ ته غیرتونه وراچوي۔ دخدائ واسطې وراچوي نو بل خواته یوه ارماني غوندې فریاد هم کوي او داورته وائي چه اوس هم وخت شته تاسوځپلو کښې په اتفاق شئ۔ دابې اتفاقي دځان نه ورکه کړئ۔ دغیرو خلاف یوه شئ نو هیله به دابوډا خوشحال دوباره



ځوان شي۔

ځکښې یوه بل ځائ کښې داسې وائي:

مغلو ته چه ګورم هغه هسې مغل نشته

د تورو وارئ تیرشواوس وریاتي یوقلم دي

پښتون په زورونیسي په فریب په تیتالونو

په مائ اثر نه شي لاپه ما دخدائ کرم دې

نه چې یم نه کارغه یم چه په کړومړو کړم

یا باز یم یا شاهین یم په ځپل ښکاره ګرځم دې

که ما غوندې نورهم وې په داکاربه ډیرخوشحال وم

چه ما غوندې څوک نشته ځکه پروت را باندې غم دې

ایملخان دریاخان دواړه په ښه رنګ تیرشول په تنګ کښې

د دواړو په فراق کښې ځماتل آه و ماتم دې(۳۳)

پدې شعرونو کښې خان دیرو مغلو دبهادرۍ او میړانې ستائینه کوي او بیا د هغوئ مثال دځپل وخت د مغلو سره ور کوي ۔ مغل چه هندوستان ته راتلو نو ډیر پړکړاؤ او کرانه راررسیدلي وو۔ د دوئ په هند کښې دکورنۍ مشر بابر مغل د هند نه مخکښې د فرغانې بادشاه وو۔ د هغه پلار عمر شیخ میرزا د هغه په وړوکوالي کښې مړشوې وو۔ دبابر د فرغانې په تخت ناسته

د ډېرو د سترګو اغزي وو. هغه خپلو دښمنانو چې پکښې ځينې د هغه خپلوان هم وو، د تخت نه لرې کړو. بابر درېيمه ځل خاوره په سر د فرغانې نه راوشړلو. څو څو ځله هغه د فرغانې تخت په اخستلو کښې کامياب شو وو ولې بيا به ئې پرېښودو باندې مجبور کړې شو. آخر هغه د کابل په طرف چله عنه راوکړله.

په کال (۱۵۰۴ء) کښې هغه کابل واخستو. د کابل سره ئې سم په قندهار، هرات او بدخشان باندې هم قبضه اوکړه. په کال (۱۵۰۵ء) کښې هغه په هند وړومبے چپاؤ اوکړو.(۳۴) د هغې نه پس د هغه د ژوند زياته حصه د هندوستان په معاملو کښې تېرېږي. د نړو پښتو په مرسته يوه ورځ داسے هم راغله چې بابر په کال (۱۵۲۶ء) کښې د پاني پت په لويه ډاګه کښې د پښتنو لښکر ته د پښتنو د بادشاه ابراهيم لودهي د مشرۍ د لاندے ماتے ورکړه. ابراهيم په ميدان کښې مړ شو.(۳۵) بابر د خپلو ميرانو حال په تفصيل سره په خپل ژوند ليک «توزک بابري» کښې ليکلے دے.(۳۶)

د بابر د فرغانې نه ترهند پورې داژوند د ډېرو کړاونو او سختو نه ډک دے. د هغه نه پس د هغه په اولاد کښې بيا اکبر بادشاه د خپل تاج وتخت د پاره ښه ډېرے خونړۍ جګړے کړې دي. دلته بابا هغه مغل ستائي چې کوم د هغه په وخت کښې وو



او د هغوئ مقابله د تېرو مغلو باچاهانو سره کوي. وائي چې هغه مغل چې تورے به ئې وهلے هغه خاورے ايرے شول. دا اوسني مغل خو رونتي خلاص دي. صرف د قلم په کار پوهېږي. دوئ د پښتنو ايمان په پيسو اخستل شروع کړي دي. دوئ کښې په زړو خپل سري اخستي دي ولې په هغه يعني بابا د لوئے خدائے داکرم دے چې هغه تورے نه خدائے په امان ساتلے دے.

بيا وائي چې نه مچ يم او نه قارغه يم چې په ډېرانو او نړو سخا ځينو پسے ګرځم راګرځم بلکه هغه شاهين يم چې خپل ښکار اوکړي او بيا ئې ډېره په خوشحالۍ خوري. بيا وائي که څه غوندے نړو هم ځينې تنکيالي وي نو بيا څه دغه ځيز کمي وه. دا لوئے غم خو را باندے حکم پروت دے چې پدے کار کښې يواځې لګيا يم. هيڅ څوک را سره مرسته او کومک نه کوي. بيا خپلو تړيالو تنکيالو ملګرو ايمل خان او دريا خان پسے ارمانونه کوي او وائي چې دواړه ملګري چې په ننګ او غيرت کښې را سره تل عمر پښتو کړې ده او په سخت وخت کښې را سره ښنګ په ښنګ به ولاړ وو هغوئ لاړل د دے دنيا نه تېر شول او اوس مغلو ته د مقابلے سرے يواځې خوشحال پاتې دے.(۳۷) د پښتو دے درېو تنکيالو د مغلو په بادشاه د شپې خوب حرام کړے وو. ورځ ئې هم په

لړزان تیریده - لکه چه د هندوستان یوه مشهور تاریخ دان -
سرجادوناته سرکار وائی چه د پښتنو دا جنګونه کړی یوه خوا
په خزانه لوئ بوجه ګرځېدلې شو نو بل خوا د دکن او شیواجی نه
یې ټول زور پدې خوا راړولې وو - د مغلو د فوځ بهترینه
حصه دلته په پښتونخوا کښې مشغوله وه - او بله غټه دا هم اوشوه
چه پښتانه چه په توره او میړانه کښې مشهور وو هغوئ اوس د
مغلو د نوکری نه ځان ساتلو او تر دې پورې چه د فوځی خدمت
نه یې هم ترخپله وسه ځان لرې ساتلو - سرکار وائی چه داد
اورنګ زیب د ژوند یوه لویه مقام وو ولې د پښتنو د لاسه
هغه ته پخپل دې لویه مقام کښې په آرام او سیدل ګران شو.(۳۸)

لږ په تفصیل کښې ځکښې لوئ خان په دنیا ظالمان ستائیلی نو
وائی چه داخلق به تل په دنیا نه وی - نو صبا خو د دوئ وخت
دې دنیا دوئ ته سلامی کوی ولې د مرګ نه پس به په دوئ
خلق لعنتونه وائی - خلق د وخت سره مجبور دی چه د هغه هر څه
ته سرټیټ اوړی ولې د دنیا نه په تلو به د هغه هر عمل غا مخ
شی - او ټوله دنیا به پرې بد وائی - د دې ظالمانو هلو په خیال
خاطر کښې هم د مرګ خیال نه راځی - مرګ ورته د ورنه اخوا لکه
دیوه میلمه ویرلند په انتظار ولاړ دې - مرګ ته خو دوئ خپل



کښې ښاکړی ده - ته به وائې کښې دوئ به تل عمر داسې ژوندی
وی - داخلق چه څه وخت په خپل ثنا او صفت راشی نو په ظاهر
خوشحالونه داسې پرهیزګار کړی چه د سړی پرې د فرښتو ګومان
اوشی ولې پدې خلقو د خان بابا پوره یقین دې چه داخلق به
دخپل مطلب د پاره د مکې په سوړولو کښې هم څه دریغ اونکړی
دنیا کښې ځینې نزدو رشتې د پلار او د ورور دی د هغې هم
داخلق څه خیال نه ساتی - خان وائی :

په خپل څوید ورورلې زړه نه وی تړلې
دخپل پلار مرګ ته هم مزی ورغوی
په هغه چاره قلم روغ کا قرآن کښې
په هغه چاره د ورور مرئ شکوی
په رکوع کښې تسبیحات د مال وملک کا
په سجود کښې خپل حشم غواړی که بنړی (۳۹)

پدې پوره تی شعرونو کښې خان بابا د اورنګ زیب اصلی
څهره خلقو ته مخامخ کړی ده - د مغلو تاریخ دانان اورنګ زیب
داسې ستائی چه دې بادشاه به قرآن شریف خپله لیکلو او بیا به
یې هغه خرڅ کړو او په هغو پیسو باندې به هغه د ژوند روزګار
کولو - دلته خان وائی که چرې دا رشتیا هم وی نو او ګوره ئ

هم هغه د خپلو ورونړو او پلار سره څه سلوک او کړو. که چرے موږ د دارا د مرګ واقعه او ګورو نو داورنګ هغه عدل او انصاف او ښه مسلماني به راته لکه د نمر په ګوته شی. دارا ئے د مرګ نه مخکښے د ښار په کلو کوڅو کښے اوګرځولو. هغه ئے د لاسو پښو نه تړلے وو او په سرلئ ئے سور په هغو بازارونو کښے اوګرځولو کوم کښے چه هغه د خپل رعب او د بدبے وخت کښے ګرځیدلے وو. هم هغه بازارونو ئے د بے عزتۍ دا حال اولید او ورسره ئے دا هم اوکتل چه خلق ورته په چغو چغو ژاړی د یوه فقیر حالت هم به هغه وخت د دارانه ښه وو. بیا ئے د مرګ په خوب اوده کړو. د مرګ نه پس هم پرے نه ښود د مرګ په صبا د هغه بے سره تنه ئے په هاتۍ اوچته اینبودی وه او په بازارونو کښے ئے ګرځوله. وروستو د هغے تنه د همایون په مقبره کښے خاورو ته ورا وسپارلے شوه، نه ئے د ښخیدو رسومات اوشو او نه چا غسل ورکړو. د هغه سرئے په یوه خوان کښے شاه جهان ته بندی خانے ته واستولو. د هغه د پاسه ئے یوه کپړه ویړوکړه، اعتبار خان[1] چه څه وخت هغه سر د

---

(۱) اعتبار خان د اورنګ زیب یوه امیر وو.



شاه جهان په خدمت کښے پیش کړه او ورته ئے اوویل چه. خولئ (یعنی اورنګ زیب) درته تحفه را استولی ده. پلار ئے زر په خوشحالئ سره اوویل چه په ده دِ دَ خدائے رحمت وی چه په بند کښے هم ځما یاد ورته وراغلو. په ډیرے خوشحالئ او شوق سره ئے ترے نه سر اوچت کړو. د سر اوچتیدو سره ئے د دارا سر په نظر راغے. شاه جهان په چغو سورو سرشو د او سینے په لوښو باندے ئے مخے را پریوتو. د مخامخ څو غابښ ئے مات شول. د هغه د شور او غوغا سره بیګم جهان آرا او څینې څو نورے زنانه هم را اورسے. هغوئ چه دا قیامت اولیدو نو په ویراو ژړا سر شوے. لږ ساعت پس د ډیر غم او خفګان په حالت کښے شاه جهان خپله ږیره ویستو باندے شروع اوکړه او تر هغے ئے دغان نه مخ شوکولو ترڅو چه په ویښو رنګ شوے نه وو.[۴]

کله چه په خان بدے ورځے راځی او پښتانه د مغلو زرو او د منصبونو په هوس کښے خپل غیرت، ننګ او پښتو پریږدی نو خوشحال وائی:

پښتانه لکه مګس ور باندے ګرځی . . . .

ورته ایښے مغل د حلوا تال دے

نو ږ یې واړه تکیې تار په تار خوږې شوې

او س په مینځ کښې یو کرم د ذوالجلال دې

ایمل خان دریاخان د واړه خوږ بین لاړل

او س خو پاتې و مغل ته یو خوشحال دې (۴۱)

پدې شعرونو کښې بابا د پښتنو د هغه لالچ او حرص ذکر کول غواړي کوم چه هغوئ په هغې وخت کښې د مال او دولت د پاره کوی، هغه خرګندوی چه پښتانه د مغلو په دولت پسې داسې لیونی شوی دی چه هیڅ مثال ئې بل نشی موندلے۔ لوئے بابا ډیر په سپکاوی د هغه بے ننګو پښتنو مثال لکه د مچ وړکوی څوك چه د هغې د وینا مطابق د مغلو ایښودی د حلوا په تال بنړیږی۔ بیا خان د الله تعالیٰ نه د مدد طلبګار دے۔ ځکه چه پدے وخت کښې د هغه د توره ننګیالی ملګری ایمل خان مهمند او دریاخان آفریدے دواړه د دنیا نه تیر شوی وو۔ هغوئ هم په خپله میړانه او توره زنئ په اورنګ زیب داسې ونډ هوړ کړے وو۔ بادشاه ئې پدے مجبور کړے وو چه د طاقت نه علاوه د نورو وسایلو نه هم کار واخلی۔ چه هغه کښې دولت یوه غټه لاره وه۔ او دا هغه لاره وه چه دوئ پرے پښتنو ته ډیره په آسانه رسیدے شو۔ نو که خان د هغوئ په فراق کښې



ژړا فریاد کوی نو هغه په حقه دے۔ ځکه چه هغوئ تر نه لاړل نو خوشحال خو بیا مغلو ته یوازے پاتے شو۔ دا درے واړه ننګیالی چه کله یو ځائے وو نو د مغلو بنه نو موړے لښکرے ئې تس په نس کړی وے۔ د هغې یو بهترین مثال د خیبر د جنګ دے۔ خوشحال پدے جنګ کښې د مغلو سره مرستیال وو لیکن د ایمل خان د لاسه د مغلو بهترین لښکر د محمد امین خان په مشرئ کښې داسے دړې وړې کړے شوے وو چه تر ننه د تاریخ په پاڼو کښې ئې ذکر موجود دے، د امین خان ټول مال اسباب پښتنو لوټ کړو۔ او هغه خپله ډیر په کړاؤ پیښور ته په رسیدو باندے کامیاب شوے وو۔ د یوه لیکوال مطابق لس زره مغل او نیولے شول او وسط ایشیا ته د خرخ د پاره واستولے شول د محمد امین خان کورنئ هم د پښتنو په لاسو کښې پریوته او پس له ډیرو منتونو او غټ دولت ورکولو هغه ته واپس کړے شوه د ایمل خان دے لوئے میړانه د خلقو جذبه نوره هم زیاته کړه او د خیبر نه تر قندهاره په پښتنو کښې یوه د آزادئ جذبه پیدا شوه، پښتانه ټول د مغلو د پاره یوه موټے او یو آواز شول۔ په کال (۱۶۷۴ع) کښې د مغلو یوه بل لوئے امیر شجاعت خان نومے د پښتنو د لاسه مړ شو۔ (۴۲) دا هم د ایمل خان د وئ میړانه

وه چه په پښتنو کښې یې د مغلو بر خلاف نوے ساه وپوکله[۴۳]
پښتانه چه اکثریت یکښې منصبونو پسے لیوني وو هغوئ کښې د ـ
قامولئ او آزادئ جذبه بیداره شوه ـ وخت په وړاندے روان
وو ـ یوه وخت داسے راغلو چه دے دریے واړو ټنګیالو خپلو کښې
مرکه اوکړه چه په یوه خولئ د مغلو برخلاف د آزادئ جنګ
شروع کیدل پکار دی ـ د مغلو طاقت به دریو ځایونو کښې تقسیم
شي او داسے پښتنو ته به د مغلو وهل آسان شي ـ ایمل خان په
کال (۱۶۷۴ء) کښې د شجاعت خان د کمان لاندے راغله مغولی
لښکر د کړپے په غابښې کښې داسے او وهل چه شجاعت خان یې هم
هم هلته او وژلو او نور مغولی لښکر د جسونت سنګه په مشرئ
کښې ډیر په کړاؤ ځانونه بچ کړل ، د دے نه لږ مخکښې په نوښار
کښې خوشحال خان هم مغولی لښکر ته ماتے ورکړے وو ـ دریا خان
اپریدی چه د نوښار او د کړپے د فتوحاتو واؤریدل نو بغیر
د څه مصلحت نه یې ناڅاپه په کوهاټ حمله اوکړه ـ هلته شیر محمد
بنګښ د مغلو د پاره قلعه ټینګه اوساتله ـ سخت جنګ اوشو ـ
سل تنه اپریدی او دریا خان مشهور غازی ورور تاتار خان
پکښې مړه شول ـ قلعه فتحه نشوه[۴۴] ـ د دے نه پس مغلو وار په وار
درے واړو لښکرو کښې زرخوارۀ کړل ، پښتانه نور هر څه ته



ټینګ دي ولے زر وته نشي ټینګیدے نو وړو وړو یې بنویدل
شروع کړل ، پوره تنی شعرونو کښې هم دے خوا اشاره شوے ده.

بیا د خان هغه لویه قصیده ته راځو چه د «ر» په پټئ
کښې ده او خان پدے کښې د هغو لولو لویو جنګونو ذکر کړے
دے کوم چه د مغلو او د پښتنو ترمینځ شوی دی ـ

بیا له کومه راپیدا شو دا بهار
چه په هر لوري یې ملک کړلو ګلزار
ارغوان دی ځمیران دی سوسن ریحان دی
یاسمن دی نسترن نرګس ګلنار
د پسرلي ګلونه ډیر په هر هر رنګ شته
ولے سره لاله دی لا پکښې اوخار
چونه موتي موتي ګل بزدی په ګریوان کښې
د ځوانانو ګلدستے دی په دستار
مغني په چغانه لیندی کښیني ده
په نغمو په پردو وغواړه هر تار
ساقي راشه ډکے ډکے پیالے راکړه
چه د میو په مستئ کښې شم سرشار
پښتونځلمیو بیا لاسونه سره کړه

لکه باز منګلے سرے کا په چپل ښکار
سپینے تورے ئے ګلګونے کړے په وینو
په اهار کښے شګفته شو لاله زار
ایمل خان دریاخان دواړه مرګ ئے مشوے
هیڅ تقصیر د واړه و نه کړواړه په وار
د خیبر دړے ئے سره کړله په وینو
په کړه په ئے هم روان کړ د ندو کار
تر کړه په تر باجوړه سے غروسه
په لړزه په زلزله شول په بار بار
په هغه لوړی چه کیږی پنځم کال دے
هره ورځ د سپینو تورو حرپهار
چه په دا لوړی زه راغلم حبطه شوم
زه مرداریم که دا خلق دی مردار
په لښکر لښکر نارے شوم ورته ستړے
دا کاره راته نه میرك والیٔ نه خار
چه احوال د یوسفزیو را معلوم شو
لواغږلم ته ښه وه نه د معنار
د ختکو سپی بهتر تر یوسفزیو
که ختك دی هم په خوی تر سپی بیکار



دریست پښتون تر قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او اشکار
څو ځوړه څو جنګونه وشول په هر لوري
ولے هیڅ د یوسفزیو نشته عار
اول جنګ دلوړے شاد تهترو وه
چه څلوېښت زره مغل شول تار په تار
خوینده لونړه ئے په بند د پښتنو شوے
اس او ښان هاتیان اُلجه قطار قطار
دوهم جنګ میر حسینی په دوابه کښے
چه ئے وتکیده سر لکه د مار
بیا له پسه د نوښهر د کوټ جنګ وه
چه ئے وکښښ تر مغلو چپل خمار
بیا له پسه جسونت سنګه شجاعت خان وه
چه ایمل ئے په کنداب ویوست دمار
شپږم جنګ مکرم خان شمشیرخان دواړه
چه ایمل کړل په خاپښ کښے تار په تار
چه څما په یاد دی لوئے جنګونه دادی
و هلکو په هر لوری نشته شمار

آسمان هرکله پیرے یکرنگے نه کا۔
گاه په کام دکل جار وړی گاه دخار
په دا هسے وخت چه وخت دنام ونګ دے
دابے ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دی
بے د تورے خلاصے نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دی
که په پوهه پښتانه دے څه هوښیار
اولسونه چه سند و بله وکا
بادشاهان ورته سجود کاندِ اختیار
که نفاق که اتفاق که جهل پوهه
د هرچا دخدائے په لاس ده هره چار
افریدی مهمند شنواری کورځه کا
د مغلو لښکر پروت په ننګرهار
زه تنها په کښے په غم دنام ونګ یم
یوسفزئ فراغت په کښت وکار
اوس چه هسے بے ننګی بے ناموسی کا
عاقبت به ورسبکاړ شی خپله چار

همیشه فتح و نصرت دے لاتر اوسه
پس له داده بیا تکیه په کردګار

اوړنګ زیب راته یوکال وشو چه پروت دے
په صورت حیران پریشان په زړه افکار

کال په کال اُمرایان دی چه پریوزی
چه طوفان شولے لبنکرے کوم ئے شمار

خزانے د هندوستان دی راخوړے شوے
سره مهران دی نتوزی په کهسار

دا د هیچا په اتلس فکره نه وه
چه به داکاروته شی په دا دیار

د بادشاه د بد نیتی کیے نشته
په بد نیت ئے ازار واخیست دچنل پلار

ځکه اوس دچا باور ورباندے نشی
هم بد نیت دے هم بد قول هم مکار

بله هیخ لیدله نه شی په دامینځ کښے
یا مغل د مینځه ورک یا پښتون خوار

کرګردش د آسمان داد ے چه لیدٔ شی
که دخدائے رضا په داوی راغے وار

مرګ ځما په پوهه ښه تر دا ژوندون دے

د عزت سره چه نه وی زیست روزګار

همیشه به په جهان کښے ژوندون نه وی

د خوشحال خټک به پاتے شی یادګار (۴۵)

پدے لویه قصیده کښے خان هغه ټول لوئے جنګونه په ګوته کړی دی کوم چه د مغلو او د پښتنو ترمینځه شوی دی - ورومبی لوئے جنګ چه یادوی نو هغه د خیبر هغه جنګ وو چه د میرجمله د ځوئ محمدامین خان د مشرئ لاندے د پښتنو یوه منظم لښکر چه د ایمل خان د مشرئ لاندے وو او پکښے شنواری، افریدی او مهمند ټول شامل وو کړے دے - پدے جنګ کښے مغلو ماتے اوخوړه - او د محمدامین ټول مال او اسباب د پښتنو لاس کښے پریوته - عن تردے پورے چه ښځے ئے هم اونیولے شوه - د کورنۍ نور غړی ئے هم څوک ژوندی څوک مړه د پښتنو په لاسو کښے پریوتل - ځوئے میرزا عبدالله او د خور خاوند میرزا سلطان کربلائی هم اووژلے شو - وړه لور، خور او مور ئے هم بندیوانے کړے شوے چه بیا وروستو په روپو خلاصے کړے شوے - محمدامین خان خپله هم ډیر په ګړاؤ ځان پیښور ته اورسولو (۴۶) د خان د وینا په مطابق د مغلو لښکر د څلویښت



زرونه هم زیات وو - بیا بل لوئے جنګ د دوآبے وو - پدے جنګ کښے میرحسین اووژلے شو او د هغه بے شمیره فوځ د پښتنو د لاسه تباه و برباد شو - بیا ور پسے د نوښهر د کوټ جنګ وو - دا جنګ هم چه پکښے خټک او افریدی دواړه شامل وو د پښتنو په بری ختم شو - بل لوئے جنګ د پښتنو او د مغلو د ګنداؤ [ګندهاب] جنګ وو - پدے جنګ کښے د مغلو نوموړی جرنیلان شجاعت خان رعدانداز بیګ خان، جسونت سنګه وغیره شامل وو - ولے د پښتنو د لاسه داد عدانداز بیګ پدے جنګ کښے سرکیبنود او جسونت سنګه خپل ډیر لږ فوځ بچ کولو کښے کامیاب شو (۴۷) - مغل بیا د مکرم خان (میر محمد اسحق) او شمشیر خان (میر محمد یعقوب) د مشرئ لاندے را غونډ شول څو ایمل خان ورته بیا په خاپښ کښے ماتے ورکړه - شمشیرخان جنګ کښے اومړو او مکرم خان ډیر په ګړاؤ د باجوړ په لوری او تښتیدو (۴۸) لوئے جنګونه د خان په وینا هم دادی - د وړوکو هډو شمار نشته - هم پدے قصیده کښے وړاندے بیان شوے دے چه اورنګ زیب ګوته په خوله حق حیران د پښتنو دے توره ته ګوری وار په وار ئے نوموړی امیران د پښتنو د لاسه مړه شول - نو اوس ئے نورے چارے را واخستے - هغه خپله مکاری او چالاکتوب

دلته هم استعمال کړو څکه چه دا ورته څرګنده شوه چه د پښتنو په توره وهل ګران دی۔ پدے کښے دے کامیاب هم شو۔ دا خبره خولکه د نمر څرګنده ده چه پښتون مرشی ته ټینګیدے شی ولے د مال او دولت په لوړ ډیر په منډه ځی۔ نو دلته خانَ والئ چه کله مغل په هرڅه ناکام شول پښتون ئے په توره اونه وهلے شو نو بیائے د هندوستان خزانے د پښتونخوا په دے عزونو راخورے کړے۔ د پښتنو جینی مشرانو ته ئے بډے او رشوتونه شروع کړل۔ مقصد ئے دا وو چه پدے جنګ کښے لوئے خانَ یوائځ پاتے شی ځکه خو هغه پښتنو ته خبرداری ورکوی چه:

پښتانه چه نورڅه فکر کا ناپوره دی

بے د تورے خلاصے نشته په بل کار

او

بله هیڅ لیدلے نشی په دا مینځ کښے

یا مغل د مینځه ورک یا پښتون خوار

خانَ صرف پدے صبر نه کوی۔ هغه تیر شوند چه د مغلو د منصب لاندے ئے تیر کړے دے په هغے هم پښیمانه دے ځکه خو والئ:

د مغل منصب ئے پرینبو هسے خوبش یم



لکه خلاص د لویه بنده بندیوان شی

دا نادره عقیده لکه څما ده

لا عجب که بل پیدا هسے افغان شی

که مے چیرے ننګیالی په لاسو کښیوزی

پرے به لرے داڅما د زړه ارمان شی

و مغل و ته به هسے کار ښکاره کړم

چه راضی را څخه روح د فرید خان شی(۴۹)

خوشحال بابا چیل وروستے عمر د مغلو سره په دشمنئ کښے تیر کړے وو۔ هغه د پښتنو د اتفاق سخت ارمانی وو۔ لکه څنګه چه په شروند ئے ارمان کولو هم داسے د پښتنو یوه والی ارمان ئے د ځان سره ګور ته یوړو۔ هغه خو په نارو نارو چغے وهلے چه پښتون په هرڅه د مغلو نه ښه ده۔ بلکه د دواړو سره هیڅ قسم مقابله نشی کیدے۔ دے چه په ښه سرے توب راشی نو دنیا ورته ګوته په خوله حقه حیرانه وی۔ په میرانه کښے ئے ځان ته د هندوستان په تاریخ کښے یوه دروند مقام جوړ کړے دے ولے کمے یکښے د اتفاق دے۔ که هرڅومره ښه او دروند سړے هم وی۔ ولے د اتفاق سبق ورته لکه چه چا نه وی ښودلے۔ د ځینو پوهانو دا خبره خو حقیقت ده چه پښتون څه وخت په اټک پورے ځی

نو د خپلو دښمنو، تربګنو او کينو پيتې جوړې کړې او داټک په پل يې کېښودې. باهر دنيا د پاره دده نه ښه سړے بل نشته. په هر خوا دده د ښه سړي توب قيصے کېږي ولے څه وخت چه دے بيا وطن ته واپس راځي نو هم د بدواو تربګنو هغه پنډ ځان سره بيا راواخلي او بيا هم د کينے او بغض نه ډک سړے وي. دلته خان هم دا ستائينه کوي. يوه خواکښې د مغل د منصب په پرېښودو د خپلے خوشحالۍ اظهار کوي او تردے حده ځي چه داسے خوشحالي را به ندے راغله د منصب پرېښودو په سبب لکه چه يوه بنديوان د بنده خلاص شي. او ورسره دا هم وائي چه پدے ځما پخه عقيده ده چه ځما غونډے به بل داسے افغان چرته پيدا شي. او که څوک يوه څو ننګيالي ملګري م په لاس راشي نو هيله به پرے د عمرونو ارمانونه اوړوم او مغلو سره به هغه کانے اوکړم چه د فريد خان چه دنيا يئ د شيرشاه سوري په نوم پېژني روح به رانه خوشحال شي. د بابر مغل نه راواخله تر آخره پورے که مغل د چا د لاسه په هزيمت وو نو هغه هم پښتانه وو. د ايشيا د دے توره زن قوم د لاسه په مغلو د ورځے آرام او د شپے خوب حرام شوے وو. په تيره خو د پښتنو د لاسه په همايون بادشاه چه د بابر ځوئے وو هغه کانے شوي وے چه تر اوسه پورے پرے



د پښتنو تاريخ فخر کوي. دے همايون د شيرشاه د لاسه هند پرېښودو او لاهور د ايران د بادشاه شاه طهماسپ صفوي سره يئ پناه واخسته د هند په خاوره يئ بيا د ايران د فوځونو په زور قدم کېښودو. هغه هم پدے شرط چه ايران ته به د هند څه مزکه ورکيدے شي. همايون خپله هم د ايران د بادشاه د خوشحاله کيدو د پاره شيعه شو. او دا وعده يئ هم اوکړه چه د هند سرکاري مذهب به هم دا وي.[50]

بيا راځو د خان او د هغه زمانے ته. څه وخت چه اورنګ زيب پرله پسے د مغلو ماتے او د پښتنو د کاميابۍ او کامرانۍ خبر شو نو خپله يئ د فوځ مشري په لاس کښے واخسته. او د پېښور په لور روان شو[51] بادشاه د آغرخان، شهزاده اکبر، وزير اسدخان او نورو نوموړو جرنيلانو سره د کال (۱۶۷۴ع) په اپريل کښے د پښتونخواه په طرف کوچ اوکړو او په اوائل د جولائۍ کښے حسن ابدال ته راورسيدو. هغه سره بے حده زيات فوځ توپخانه او ساز و سامان وو.[52] خوشحال بابا هغه وخت د تيراه په لور روان وو. هغه لا په ميدان کښے وو چه د شاهي فوځ د راتګ نه خبر شو نو دا څو مشهور شعرونه يئ اوويل:

اورنګ زيب بادشاه زړه ډک په لاهور راغے
ګوده کانده به څوک وران څوک به ودان شي

په جهان د ننګيالي دي اودا دوه کاره
يا به وخوري ککړۍ يا به کامران شي
د بازوونو د کارګانو مصاف و يني
تر دا مينځ به ئې دوبيو رود روان شي
عاقبت به خدائې ظفر کاد بازانو
تار په تار به آواره واړه کارګان شي

او:  د مزريو مړنتوب په لښکر نه وی
مټ ئې هر کله يرانه په چنل خان شي[53]

بادشاه چه څه وخت حسن ابدال ته راورسيدو نو يوه خوا خوئې د پښتنو په ملك فوځونه خوارۀ کړل - ورسره ئې لکه چه وړاندے ذکر اوشو د چلے مکارۍ او چالبازۍ نه هم کار اخستل شروع کړو - د دوئ خلاف بادشاه سياسی چالونه شروع کړل پښتانه ئې د روپو او د منصبونو په لالچ کښے راګير کړل او پدے رنګه ئې ورکښے د بے اتفاقۍ اور اولګولو[54] بقول د جادوناتھ سرکار هغه دلته چله د دوو هډوکو چچلو تر هغه پورے د جنګولو ترڅو چه مات نه وی والا پاليسی او آزمائيله.[55] د قبائلو مخکښے بنګش د هغه په طرف شول - د پښتنو د بے اتفاقۍ په سبب خانۍ په خانۍ جنګونه شروع شول - کله به يو برے مونډلو کله بل.[56] -



بادشاه د چل انتهائی کوشش نه باوجود هم د خيبر درۀ په لرکولو کښے کاميابی او نه مونده - پدے دوران کښے بابا د ګردے پښتونخوا يوه دوره اوکړه ، هغه چل پوره وس اوکړو چه پښتانه سره يو خائې شي او د مغلو خلاف يو موټے شي ولے د بادشاه دولت - چل کار کړے وو - او هغه د بے اتفاقۍ دا مبارکوم چه د دے لوئې پښتنو مشرانو په وجه ټ ډيرو مړدو دا سے پټ وو يو ځل بيا دا څرګند شو - په دوئ کښے بے شميره ډلے جوړے شوے د شاهی فوځ مقابله په ښه طريقه اونکړے شوه - بادشاه په حسن ابدال کښے دوه کاله تير کړل - هغه په آواخر د دسمبر کال ( ۱۶۷۵ء ) د حسن ابدال نه روان شو او په اوائل د اپريل - کال ( ۱۶۷۶ء ) واپس د دهلی ته اورسيدو - په پښتنو کښے ډيرے قبيلے او ټبرے د هغه د دولت دد ومره لوئې مظاهرے نه سخت متاثر شوی وے.[57] هغوئ چل لوئې ترون د مغل د منصب او دولت د پاره مات کړو - بادشاه په چله پاليسۍ کښے کامياب شو.[58] هغه اورکوم چه دا ورنګ زيب مکارۍ او دولت ولګولو - تر ډيرے مودے پورے د هغے مره کيدل ګران وو.[59] بل خوا چه سرے نظر واچوی نو دا ورته څرګنده شی چه د پښتونخوا د دے جګړو په شاهی خزانه بے حده زيات بوج را اوغورځولو - د دے جنګونو

د بادشاه پریشانئ زیاتې کړې وې - هم د پښتنو د دې جنګونو
په برکت هغه چه د هندوستان د فتح کولو کوم خوب لیدلې وو،
هغه بې تعبیره او وران خوب پاتې شو-[٦٠]

د دې نه پس به اوس مونږ د خوشحال بابا هغه لوئې-
قصیدې ته راشو کومه چه هغه د دهلي د بادشاهانو متعلق وئیلې
ده - هغه د ټول مسلمان بادشاهانو ذکر ښه په تفصیل سره کړې
دې - د ښتنئ څیړنې په نظر چه ورته سړې اوګوري نو حیرانتیا
جنوره خو داده چه هغه سره د وسائیلو هم کمې وو او سره د دې
د هغه چپل ژوند هم ډیر بې آرامه غوندې وو - خنګه یې داسې
وار په وار ټول مسلمان بادشاهان د خپل خصوصیاتو سره یاد
کړي دي، په سر کښې د دهلي د ښهر ثناخوان دې - د بازارونو
یې صفت کوئ - د لویو لویو ښائسته عمارتونو په ستائینه نه
مړیږي - توصیف کښې یې تر دې حده رسیدلې دې - چه د جنت
سره یې مثال ور کوي - خوشحال چپله وئیلي دي چه هغه دا قصیده
د شاه جهان بادشاه په وخت کښې وئیلې ده - او په آخري شعرونو
کښې یې وخت هم په ګوته کوي - د دلبار د نورو صفتونو علاوه
د بادشاه د دیوان متعلق وېرځه وائې - مثلاً:

د بادشاه د خاص وعام به څه تعریف کړم - وخوابګاه وته یې عقل په حیرت و[٦١]



دا د بادشاه د ناستې ځائې وو - سور کانړې یې په تعمیر کښې استعمال
شوې وو - د مغلو په وخت کښې د دې - (۵۰۰) فټه اوچت او
(۳۰۰) فټه پلن وو - د دې د پاسه بیا د سور کانړي ستنې ولاړې
وې او په هغو باندې آسماني رنګ شوې وو - د سرو زرو
او ملغرو کار ځائې په ځائې پرې شوې وو -[٦٢] بیا دیوان خاص راځي
سړې چه د دې په ښائښت او ښائست نظر واچوي نو یقیناً چه
ورته ګوته په خوله حیران پاتې شي - دا عمارت (۹۰) فټه اوږد
او (٦٧) فټه پلن دې - د مزکې نه (۴ ½) فټه اوچت دې -
پدې باندې د سنګ مرمرو ۳۳ ستنې جوړې دي - د دې د
ښائست مثال نشته - د هغه وخت سره پدې (۲۹) لکه روپئ
لګیدلې وې - په یوه محراب یې په فارسي ژبه کښې دا شعر لیکلې -
شوې دې:

اګر فردوس بر روئې زمین است - همین است و همین است

یعنې که چرې پدې دنیا جنت وي نو هغه هم دا دې او هم دا دې

د دې عمارت په مینځ کښې د بادشاه د ناستې د پاره تخت طاؤس
نومې یوه تخت جوړ کړې شوې وو چه هغه وخت سره پرې نهه
کروړه روپئ لګیدلې وې - د کشیده کارئ ښائسته نمونې پرې
جوړې کړې شوې وې - د دیوان خاص په تاریخي اهمیت هم

یو نظر اچول پکار دی ـ دا هغه ځائے دے چه فرنګیانو ته پکښے ورومبی ځل د انعام په توګه څو کلی ورکړی شوی وو او ور سره په برټش ایسټ انډیا کمپنی محصول هم معاف کړے وو ـ دا هم هغه ځائے دے چرته چه اورنګزیب دخپلو ورونړو د وژلو حکم ورکړے وو ـ هم د دے دیوان خاص نه نادر شاه افشار د ډهلی د خلقو د قتل عام حکم ورکړے وو هم دلته غلام قادر روهیله د شاه عالم مغل نه سترګے ویستے وے او هم دا هغه تاریخی ځائے دے چیرته چه بوډا شاه عالم د لارډ لیک سره ملاقات کړی ـ د مغلو په آخری بادشاه بهادر شاه ظفر هم دلته د غدارئ مقدمه اوچلیده او بیا په کال (۱۹۱۱ء) کښے شهنشاه جارج پنځم هم دلته خپل تاریخی دربار منعقد کړے وو ـ[٦٣] هم دا سے ئے د خواب ګاه حال وو ـ د هغے بناوټ ته د انسان عقل حیرانیدو ـ ویلے کیږی چه د خوابګاه نه بهر یوه پرده راځوړنده وه او د دے پردے نه اخوا به یوه داستان ګو ناست وو ـ بادشاه ته به ئے قیصے اوروِلے او تر هغے به لګیا وو ترڅو چه به د بادشاه سترګے په خوب نه وے ورغلی ـ[٦٤]

بیا خوشحال بابا وار په وار هغه ټول مسلمان بادشاهان یادوی چا چه په ډهلی حکومت کړے دے ـ د مسلمانانو د راتګ



نه اول ئے دا سے ستائی :

د ډهلی بنا اول وکړه څوهانو

پر د دیو تیر سو کاله سلطنت وُ[٦٥]

د بابا وینا مطابق د ډهلی په بادشاهانو کښے سرخیل د چوهان کورنئ ده ، د دے چوهانانو چه د اصل نه راجپوت وو په ډهلی باندے د دریو سوو کالو نه زیات حکومت کړے وو ـ[٦٦] په ډهلی چه مسلمانانو یرغلونه شروع کړل ـ نو خان د هغه متعلق وائی :

د اسلام بادشاه اول معزالدین وُ

چه یوه کال ئے په ډهلی کښے اقامت وُ

چه د هلے ئے راینوه له پښتو رایه

په دا کار کښے ئے ډیر کړے مشقت وُ

چه ئے سرله پښتو رایه پریکړه تنه

شپږ سوه دولس کاله کم سن د هجرت وُ[٦٧]

معزالدین محمد بن غوری چه د شهاب الدین غوری په نوم شهرت لری د غزنی د بادشاهئ په خاتمه مخے ته راځی ـ د غزنی بنیاد امیر یعقوب لیث صفاری کیښود دے وو ـ هغه د نیشاپور د کورنئ نه بادشاهی واخسته او په کال (۸٦١ء) کښے د غزنی او د

خواوشا علاقې ولکې شوې. په کال (۸۷۰ ع) کښې د کابل هندو بادشاهانو کابل پرېښودو او په کوز طرف روان شو او لاهور (د صوابۍ لاهور) ئې د خپل دارالحکومت د پاره غوره کړو. دا یعقوب څه موده پس د خلیفه طاقت ته اهم شو. په کال (۸۷۵ ع) کښې د بغداد په طرف د خلیفه خلاف روان شو ولې ماتې ئې اوخوړه او د خوزستان په اهواز نومې ځائې کښې په کال (۸۷۹ ع) کښې اومړو. د هغه په مرګ د هغه بل ورور امر په تخت کښېناستو هغه یوه کمزورې بادشاه ثابت شو. د هغه په وخت کښې د لاهور بادشاهانو واپس کابل، لوګر، ننګرهار ولخستل. په کال (۹۰۰ ع) کښې هغه د سامانیانو خلاف روان شو. په جنګ کښې ئې ماتې اوخوړه د بلخ خواوشا کښې اونیولې شو او بندي بغداد ته واستولې شو. هلته اووژلې شو، د هغه نه پس هم د هغه کورنئ طاهر په تخت کښېناستو. هغه هم په کال (۹۰۸ ع) کښې خپلو دښمنانو د لاسه اونیولې شو او لکه د امر بندي بغداد ته واستولې شو. څه موده پس بیانو ټول د سامانیانو لاس لاندې راغلل. د سامانیانو د ذکر سره لږ د هغوئ تذکره هم پکار ده. د لسې پېړئ په اولنو کالنو کښې د بلخ دیوه نوموړي سامان چه اسلام ئې قبول کړو د هغه اولاد په ماوراءالنهر، فارس او د نني افغانستان زیاته برخه ئې لاندې کړه.



الپتګین چه خواؤشا (۸۸۰-۸۱ ع) کښې زېږېدلې وو هغه احمد بن اسمعیل سامانې باندې خرڅ کړې شو. هغه ډېره زر ترقي اوموندله او په لږه موده د بلخ د کورنئ تر رتبې اورسېدو. څه موده پس هغه د هغوئ سره وران شو او غزني ئې اونیوه او هلته ئې په کال (۹۶۳ ع) کښې د خپلې بادشاهۍ اعلان اوکړو. د هغه په مړینه د هغه ځوئې ابواسحق ابراهیم په تخت کښېناستو. هغه یوه کمزورې بادشاه وو. د هغه په وخت کښې فوځ باغي شو هغه په کال (۹۶۶ ع) کښې مړ شو. د هغه نر اولاد نه وو نو امرایانو د الپتګین یوه غلام بلکتګین بادشاه کړو. هغه یوه مړنې لیکن ساده سړې وو. د هغه د انصاف ذکر نن هم کېږي. په کال (۹۷۲ ع) کښې هغه هم مړ شو. د هغه په مرګ یوه بل غلام چه د پرتګین په نوم یادیږي. هغه بادشاه شو. هغه پنځه کاله حکومت اوکړو ولې د خلقو بدي شو. په کال (۹۷۷ ع) د سبکتګین د لاسه اوشړلې شو. د اسبکتګین د الپتګین ځوم هم وو او مړې ئې هم وو. سبکتګین په کال (۹۹۷ ع) کښې مړ شو او پس د هغه نه د غزني بادشاه مشهور محمود غزنوي وو. محمود غزنوي د سبکتګین مشر ځوئ دیر په کرد فر سره تر کال (۱۰۳۰ ع) پورې حکومت اوکړو. د هغه نه پس د هغه ځوئې مسعود بادشاه شو. مسعود د

مرګ (کال ۱۰۴۰ ع) نه پس د غزني د کورنۍ زوال شروع شو.

قطب الدّین چه د ملك الجبال په نوم یادیدو چنل ورور سره خفګان پیدا شو۔ او د چنل کور غور نه غزني په لور راروان شو۔ بهرام بادشاه د غزني ورته خپله لور په نکاح کړه۔ ولې څه موده پس ئې ورته زهر ورکړو۔ د هغه ورور سیف الدّین د چنل ورور بدل اخستو د پاره په غزني لکه د الله تعالیٰ د قهر نازل شو او بهرام ئې اوشړلو۔ بهاؤالدّین سام ئې هلته بادشاه کړو۔ څه موده پس بهرام د هندوستان نه واپس راغلو سیف الدّین ته ئې ماتې ورکړه او سام د هغې د غم نه مړ شو۔ په کال (۱۱۵۰ ع) کښې د دوئ یو بل ورور چه علاؤالدین جهان سوز په نوم مشهور دے د چنل فوځ سره په غزني راپریوتو۔ بهرام ته ئې ماتې ورکړه او غزني ته ئې اور ورته کړو۔ علاؤالدین ته سلطان سنجر سلجوقي شکست ورکړو۔ آخر کیده په کال (۱۱۸۶ ع) کښې د هغه وراره معزالدّین محمّد بن سام خسرو ملك ته ماتې ورکړه او داسے د غزني د کورنۍ خاتمه د غوریانو د لاسه اوشوه۔ معزالدین (چه په شهاب الدین غوري هم پیژندلے کیږي) ته د هندوستان طرف په حواله کړے شو او د هغه مشر ورور غیاث الدین محمّد بن سام غوري خپله د خراسان، عراق او غور علاقې خان ته غوره کړے



هغه هم لکه د غزني د تیر شوو نورو بادشاهانو په شان په هند حملے شروع کړے۔ د وړو وړو حملو نه علاوه هغه هم د دے پوره ذکر شوي بادشاه پرتهوي راج چه د راے پتهورا په نوم هم شهرت لري په وخت کښې په هند حمله وکړه، دا حمله د کال (۱۱۹۱ ع) ده پرتهوي راج د خپلې میړانې په سبب په ټول هند لکه د نمر ځرکندو هغه د هند د بادشاهانو یوه جرګه را اوغوښته او هلته ئې په تفصیل سره د مسلمانانو د حملو په او د ړولو باندے بحث اوشو۔ بیا ئې په شریکه د محمّد غوري[۶۸] د مقابلې فیصله اوکړه د ترائن په لویه ډاګه کښې جنګ اوشو۔ د دے جنګ کښې پښتنو ماتې اوخوړه۔ محمّد غوري ډیر په ګران ځان واپس وطن ته په رسولو کښې کامیاب شو۔ هغه په جنګ کښې سخت زوبل شوے وو د هند نه په بیرته تلو هغه خپل ټول امیران او سرداران را اوغوښتل د چا د لاسه چه پښتنو دا د بے عزتۍ ورځ لیدلې وه او هغوئ ته ئې سختې سزاګانے ورکړے۔ بیا ئې روغ یوه کال د جنګ تیارې اوکړه او په کال (۱۱۹۲ ع) کښې بیا د هند په لور روان شو۔ دا ځل بیا لکه د چغوا د پرتهوي راج د جنډے لاندے د هندوستان یونیم سل بادشاهان او راجګان راجمع شوي وو۔ ولې دا ځل بخت د پښتنو ملګرتیا اوکړه۔ د هندوانو دے لوئې فوځ ته ماتې ورکړے شو او

راۍ پتهورا هم ځپل سرا وخوړو[۶۹] - دا سې ډیر په کړاؤ مسلمانانو ته د ډهلۍ دا باچاۍ په لاس راغله . پس له هغې نه لوۍ خانَ دا سې وائۍ :

بیا لـه پسه قطب الدّین د ده مریې و

چه پر ېښې ئې په هند په نیابت و[۷۰]

سلطان محمّد غوری نرفرزند نه لرلو - وئیلې کیږی چه یوه ځل یوه درباری د سلطان په نرفرزند نه لرلو باندې ځپل خفګان ښکاره کړو - په جواب کښې ورته محمّد غوری او وئیل چه د - بادشاهانو ځویوه یا دوه ځامن وی چه د تخت قابل وی ولې ځما دومره ځامن دی او هر یوه د بادشاهۍ لائق دې[۷۱] - د هغه دا خبره څه غلطه خو نه وه ډیر لوئې لوئې سرداران هغې د غلامانو په شکل کښې لرل - د دوئ اکثریت د ترکستان او سیدونکی وو - او سودا کرو به په بادشاهانو او امیرانو خرڅول - بادشاه به د دوئ د تربیت خاص خیال او ساتلو او د دې نتیجه به داوه چه بیا دوئ به د هغه بادشاه دا سې وفادار وو چه په سخته کښې به د دنیا د هغوئ نه واؤړیدله ځپل خپلوان به ئې د مطلب په وخت کښې پردی شول ولې دا غلامان به هغې سره څنګ په څنګ هر ې پېښې ته مخامخ ولاړ وو - او د بادشاه په معمولی اشاره



به د ځپله سره ورتیر وو - هم په دې غلامانو کښې چه وروستو بیا آزاد کړې شویوه د قطب الدّین ایبک په نوم شهرت لرلو هغه هم دا سې غلام وو او د نیشاپور قاضی په بیه اخستې وو - هغه په ځپله میړانه ډیر زر د قاضی په زړه کښې ځانته ځائې پیدا کړو د قاضی په مرګ هغه د سلطان غوری په لاس راغلو، په ظاهری شکل وصورت خو ډیر ښائسته نه وو ولې د ځپلې توری او عقل په وجه د امیر آخور لوئې رتبې ته اورسیدو - ایبک د سلطان غوری سره د هند په سفر کښې ملګرې وو - د سلطان غوری په حکم د هند نیابت هم هغې ته سپارلې شوې وو - ډیر زر هغه ځپل ځان د دې عزت چه کوم ورته سلطان ور کړې وو اهل ثابت کړو په لږه موده کښې ئې هانسی، میرټ، کول، د هلې او رنتهمبور قبضه کړل، هم د هغه په وخت ټول هند د ډهلی نه تر کالنجر پورې او د لکهنوتی نه تر لاهور پورې علاقه د مسلمانانو په قبضه کښې راغله - په کال (۱۲۱۰ ع) کښې د چوګان کولو په موقعه د اس نه د پریوتو په سبب مړ شو[۷۲] -

د دې نه پس د خوشحال د وینا مطابق بله کوړنۍ د التمش مخې ته راځی دې هم لکه د ایبک د مریو نه وو - لوۍ خانَ ئې دا سې ستائۍ :

بیاله پسه شمس الدین دده پالک وُ
چه په خلقو ئې آواز د عدالت وُ
بیاله پسه فیروز شاه د شمس الدین وُ
چه په هند کښې بې نظیر په سخاوت وُ
بیاله پسه رضی لور د شمس الدین وه
چه راضي ځنې سپاه او رعیت وُ
بیاله پسه معز الدین د شمس الدین وُ
چه هر چرته د غلیم ځنې هیبت وُ
بیاله پسه ناصر دین د شمس الدین وُ
چه مشهور په عدالت په عبادت وُ (۷۳)

د قطب الدّین ایبک هم نر فرزند نه وو- د هغه د مرګ نه وروسته د هغه متبنی آرام بخش بادشاه کړے شو- دا واقعه د کال (۱۲۱۱ ع) ده - آرام بخش د آرام شاه په نوم په لاهور کښې- تخت نشینی اوشوه ولے دے لا ډهلی ته نه وو رسیدلے چه د ځینې امرایانو په خواهش د بدایون والی التمش ډهلی ته راوغوښته شو- آرام شاه چه د التمش د راتګ واوریدل نو د ډهلی په لور په تیزئ سره روان شو ولے قسمت ئې نوم د ډهلی په- بادشاهانو کښې نه وو لیکلے د ډهلی نه څو میله راایسته ورته-



التمش شکست ورکړو (۷۴)- التمش لکه چه وړاندے او ویلے شو هم لکه د داسے نورو مریانو نه یو مریئ وو- جمال الدّین نومے یوه سوداګر غزنی ته راوستے وو- د غزنی نه ئې ډهلی ته بوتلو او هلته ئې په قطب الدّین ایبک باندے خرڅ کړو- دے د آرام شاه نه بادشاهی واخسته او په کال (۱۲۱۲ ع) کښې د ډهلی په تخت کښیناستو- هغه وخت د ډهلی تخت سنبالول څه آسانه خبره نه وه- یوه خوا د امیرانو سازشونه ، بل خوا د هندوستان د راجګانو یرغلونه د دے هرڅه مقابله کول څه آسانه خبره نه وه ولے آفرین د دے په لوئ همتئ چه ډیر په ښه طریقه ئې د دې ټولو خطرو مقابله اوکړه دے په هندوستان داسے انصاف سره حکومت اوکړو- چه تر ډیرے مودے به خلقو د دے مثالونه ورکول ، هغه ځینل تول عمر په جنګونو کښې تیر کړو ولے د دے سره سره د علم او فن ډیر لوئ قدر دان وو- هغه به د علماؤ ډیر زیات قدر کولو- التمش په کال (۱۲۳۵ ع) کښې مړ شو- د دے په مرګ د دے ځوئ فیروز شاه د ډهلی په تخت کښیناستو- ولے هغه د عقل او فکر او پوهے نه دخالی ذهن خاوند وو- د ځوانئ نشو تماشو په هغه واخستو- ډمانو او د داسے قبیل نورو خلقو ته ئې لوئے لوئے جاګیرونه خلعتونه ورکړل- منصبونه هم داسے خلقو ته ورکول او سپاړلے

شي. د هغه دور د عیش وعشرت دور وو. ډېر زر د ده دلاسه د حکومت واګې هم د ده خور رضیه سلطانه ته لاړې. فیروزشاه په ډهلي تقریباً یو نیم کال حکومت کړے وو.[۷۵] رضیه سلطانه د التمش یوه توریالۍ لور وه. په عقل، پوهه او فکر کښې د التمش د ځامنو نه هوښیاره وه. د التمش په وخت کښې ئې هم ځینې جنګونو کښې حصه اخستې وه. او د خپلے میړانے نغارے ئې په وطن دننګولے وے. التمش هسے هم د مرګ نه مخکښې د دے د بادشاهۍ وصیت کړے وو چه هغه وخت ترکو ته دیوے ښځې لاندے او سیدل ډېر ګران ښکاریدو ولے چه کومے کالے فیروز شاه راخستې وے د هغې په لیدو رضیه سلطانه بغیر د څه خاص کړاؤ نه بادشاهۍ ته راوغوښتے شوه. رضیه په کال (۱۲۳۶ع) کښې په تخت کښېنا سته د ملک د چلولو کاروبار ئې ډېر په ښه طریقه سنبال کړو.[۷۶] هغې به د سړو جامې واچولے او لکه د سړو به وسله بنده دربار ته راتله. چنل کاروبار سلطنت ئې ډېره په ښه طریقه سنبال کړو ولے ډېر زر د هغې جنس د هغې د زوال سبب اوګرځیدو هغې د چنل امیرآخور ملک یاقوت (جمال الدّین یاقوت) سره تعلق ډېر خاص شو. ټولو لویو امراؤ او درباریانو دیوه حبشي سره د هندوستان د ملکے دومره نزدو ولے غوړه او نه ګڼړلو. ډېر زر



د بغاوت جنډے پورته کړے شوے. ملک التونیه، د سرهند (بټهنډے) حاکم د ټولو سرخیل وو. رضیه د بغاوت مړکیدو د پاره د ډهلي نه روانه شوه. دواړو فوځونو ترمینځه یو خونړے جنګ اوشو. یاقوت جنګ کښې اووژلے شو. رضیه بندی شوه.[۷۷] ولے لږه موده پس ملک التونیه پخپله نکاح کښې واخسته. دلته د مینځ لوظونه کیدل او هلته په ډهلي کښې ترک امراؤ د رضیې بل ورور معزالدّین بهرام شاه چنل مشر کړو. رضیه او ملک التونیه سره د خپلو فوځونو د ډهلي په طرف روان شول. کیتهل نږدے ځائے کښې جنګ اوشو. نتیجه ئې د رضیه او ملک التونیه په مرګ اوختله تقریباً درے نیم کاله حکومت ئې کړے وو.[۷۸] بهرام شاه په تخت کښېناستو او د ناستې سره ئې سازشیانو ته ډېرے سختے سزاګانے ورکړے او پدے طریقه ئې چنل رُعب او حیثیت د خلقو په زړونو کښے کښېنولو. سلطان بهرام شاه چپله هم دیوه سازش ښکار شو. اووژلے شو. حکومت ئې تقریباً دوه کاله وو.

دلته اوس یوه داسے بادشاه راځي چه لوئے بابا ئې بالکل ذکر ندے کړے. دا هم کیدے شي چه د خوشحالؔ په خیال کښې په هغه کښې څه د صفت قابل نه وو. د هغه نوم سلطان علاؤالدّین مسعود شاه وو. د ده ورومبے دور د انصاف د پاره مشهور دے

ولے وروستو بیا ئے ظلم او ستم شروع کړو۔ د امراؤ دلاسه په بند بندی شو او هم په قید کښے مړ شو۔ د حکومت وخت ئے څلور کاله وو[٧٩]۔ د ده نه پس بیا سلطان ناصرالدین راځی۔ هغه په کال (۱۲۴٦ ع) کښے په تخت کښیناستو۔ هغه د سلطنت د کاروبار ټول بوج د خپل یوه وزیر ملك غیاث الدّین بلبن په اوګو واچولو۔ دا بلبن د التمش څوم وو۔ او هغه ورته د الغ‌خان خطاب ورکړے وو۔ او ور سره ئے ورته دا هم نصیحت کړے وو۔ چه د عدل او انصاف نه به کار اخلے۔ ځکه چه د قیامت په ورځ چه بیا خدائے تعالیٰ ته زه شرمنده نه یم۔ ناصرالدّین خپل ژوند ډیر څه فقیرانه غوندے تیر وو۔ د ده وخت د عدل او انصاف د پاره مشهور دے هر وخت به ئے د رعیت د آرام خیال ساتلو۔ د ده په وخت کښے ملك کښے خوشحالی او سوکالی وه۔ د هغه ټولے خزانے به د رعیت او د خوځ د ښیګړے د پاره پکار راوستے شوے۔ د درویشانو او فقیرانو ئے خاص خیال ساتلو۔ د علماؤ د پاره ئے وظیفے مقرر کړی وے — حاجتمندو ته ئے دومره څه ور کول چه تر مودو مودو پورے ئے نوم ژوندے وو۔ ډیر جماعتونه او سرایے ئے جوړے کړی وے او ډیر د صفا او بی نفرونه ئے هم جوړ کړی دی۔ ویلے کیږی چه دے بادشاه به خپل پوره وس کولو چه د حلالو روزی او خوړم[٨٠]۔ دے بادشاه



ډیر په خداترسئ او نیکئ د شلو کالو نه زیات حکومت اوکړو۔ او بیا ئے تخت د بلبن په لاس راغلو۔ ناصرالدین باندے د بلبن لور واده وه، دلته بیا د حیرانتیا خبره داده چه خوشحال ولے د دے۔ دومره لوئے رعب داب او دبدبے خاوند ذکر دلته نه کوی۔ سلطان بلبن د ډیرے لوئے دبدبے او رعب خاوند وو۔ هیڅ یوه کار ئے بے سوچه نه کولو۔ د سلطنت په انتظام کښے ئے کم اصل خلق نه پریښودل او همیشه ئے دوینے په سوچه والی یقین لرلو۔ د هر حاکم لګولو نه مخکښے به ئے د هغه د ذات پات او نسل مکمل تحقیقات اوکړل۔ د طبیعت نه بے حده سخت وو۔ سزاګانے به ئے هم ډیرے سختے ورکولے۔ قصاص ئے هم چاته نه پریښودو د هغه د وخت ټول امیران او وزیران له هغه نه زیات ویریدل ولے د دے سره سره به ئے کله ناکله زړه داسے نرم شو چه وعظ ته به ناست وو نو بے اختیاره به په ژړا شو۔ د بادشاه کیدو نه پس ئے د ځوانئ ټولے نشے تماشے پریښودلے وے۔ ځکه چه په ځوانئ ئے لکه د نورو امیرانو شراب هم څښل او د ګډا په محفلونو کښے ئے هم شرکت کولو۔ ولے د تخت نشینئ نه پس ئے دا هر څه پریښودل او خپل ځونګ او دس ئے بنه په قاعدګئ سره شروع کړل[٨١]۔ د هغه په ځائے بآباد هغه نمسے کیقباد یا د دوی او والئ؛

بیا سلطان معزالدّین کیقباد وُه
چه ورځنه هم صورت اوهم سیرت وُ (٨٢)

دا بادشاه د بلبن نمسے وو۔ د پلار نوم ئے ناصرالدّین بغراخان وو۔ دے لا د اتلس کالو وو چه امیرانو په تخت کښینولو په اصل کښے حکومت د امیرالامراء فخرالدین وو۔ کیقباد د نیکه په شروند د هر قسم عیاشو نه لرے پاتے کړے شوے وو اوس چه کله دځیل واك او اختیار خاوند شو نو د حکومت ټول واك اختیار ئے فخرالدّین ته پریښودو او په عیاشو داسے ور بوخت شو چه د عمر ټول ارمانونه ئے پوره اوړژول ، لوئے خان د ده د سیرت تو صفت کوی ولے د هغه صفت بالکل برعکس خبره وه۔ دا بادشاه د سیرت په لړ کښے د صفت بالکل قابل ندے ۔ دے خو په هند کښے مشهور د ځیلے عیاشئ په وجه وو۔ پلار ئے لا شروندے وو ورته ئے هرقسم نصیحت او پند اوکړو چه د دے شروند ځان لرے اوساته ولے عادت په رښتیا ویلے کیږی چه نه بدلیږی تش په نامه ئے درے کاله حکومت اوکړو۔ د هغه نه پس د بادشاهانو یو نوے کورنئ مخ ته راځی۔ دا کورنئ د تاریخ په پاڼو کښے په خلجیانو یا غلجیانو یادیږی۔ خوشحال بابا د دوئ متعلق وائی:

بیا سلطان جلال الدّین په سریر کښیناست



چه په اصل کښے غلجے د ولایت وُ
بیا ئمسے د فیروز شاه علاوالدین وه
چه په خلق او په کرم د ده شهرت وُ
بیا له پسه قطب الدّین د علائی وه
چه همیش ئے مخ په عیش او عشرت وُ (٨٣)

جلال الدّین غلجی د شائسته خان په نوم ښه نوم پریښودلے وو۔ د هغه د وزارت ځینی قیصے مشهورے دے۔ چه د کیقباد ظلمونه زیات شول نو امراؤ په شریکه صلاح اوکړه او وزیر شائسته خان ئے په تخت کښینولو۔ دا واقعه د کال (٩٠-١٢٨٩ع) ده۔ ولے د ډهلی خلقو بادشاه نه منلو۔ ده د ډهلی په خواؤ کښے دکیلوکهری په نوم یوه ښار یے آباده کړه۔ او په هغے کښے ئے استوګنه شروع کړه۔ ډیر زر ئے د سخی توب او ښه سړی توب قیصے تر ډهلی اورسیدلے ۔ اوس هغوئ ده ته دعوت ورکړو چه ته راشه او د ډهلی په ښار کښے دننه استوګن شه ۔ دے د طبیعت نه ډیر زیات نرم بادشاه وو (٨٤)۔ اکثر به ئے ویل چه اے خدایه وروڼو او عزیزانو تر ډیرے مودے پورے ما خپله د دے تخت ته سجدے کړی دی۔ نن ماته الله تعالیٰ دا فضیلت راکړے دے۔ چه پدے باندے زه کښینم ولے تاسو د دے خبرے هم ګواه اوسئ چه زه نن دا وعده

کوم چه چرے به هم پخپل رعیت باندے زور ظلم او زیاتے نه کوم (۸۵) هغه په هیڅ صورت دا نشو برداشت کولے چه د بلبن د زمانے. لوئے لوئے امیران دے هغه ته لاس په نامه ولاړ وی. کله چه به هم څوك مشرامیر هغه اولیدو د هغه به ئے ډیر زیات قدر او عزت کولو. د دے نه پس ئے لوئے لوئے جاګیرونه او منصبونه په امیرانو کښے اوویشل او د سخاوت ئے داسے حربے استعمال کړے چه ډیر خلق چه اوّل د هغه د نوم اوریدو نه هم بیزار وو د هغه پدے نرمئ باندے اعتراض اوکړو نو هغه ورته په جواب کښے اوویئیل چه ډیر عمرم وینے تویے کړی دی. او س م عمر دا ریاکالو نه تیر دے زړه دانه غواړم چه د یوه مسلمان په وینه دِ خپل لاسونه ککړ کړم. دے په کال (۱۲۹٦ ع) کښے د خپل وراره علاؤ الدّین د لاسه اووژلے شو. علاؤ الدّین په تخت کښیناستو سره د داسے کارونه شروع کړل چه خلق حیُنی ورته حیران پاتے شول. هغه یو مدبر. قابل او ډیر میړنے بادشاه وو. خپله توره ئے د څوانئ نه څرګنده کړی وه، د هند په ټولو مسلمانانو بادشاهانو کښے د ده فتوحات زیات دی. د فتوحاتو نه علاوه ئے د ملك نظم وضبط داسے په ښه طریقه سنبال کړو چه تر ننه ئے خلق مثالونه ورکوی. د هغه په وخت کښے د رشوت او ذخیره اندوزئ



خاتمه اوشوه. په وړومبی ځل د هرڅه سرکاری نرخونه مقرر شول. چا چه به د مقررو نرخونو نه زیات قیمت اخستو هغوئ ته د سلطان په حکم سخته سزا کلنے ورکولے کیدے. سوداګرو به د ټولو نه اول په سرکاری رجسټر کښے خپل اندراج کولو. اکثر خلقو چه د سوداګرئ شوق ئے لرلو او پیسه به ورسره نه وے نو د حکومت لخوا به هغوئ ته قرضے ورکولے کیدے. هغوئ به په هغو پیسو سوداګری شروع کړه د سلطان کارندو به هغه وخت په وخت د بازار د نرخونو نه خبرولو. (۸٦) د بادشاه جاسوسی نظام هم ډیر معتبر وو. هر دوه امیران به ئے خپلو کښے یوه والی ته نه پریښودو. د امیرانو په مینځ کښے بغیر د بادشاه د منظورئ نه خپلوئ نشولے کیدے. د دے دومره اقداماتو نتیجه دا اووته چه د بهرنیو خطرو مقابلے د پاره رعیت یوه موټے. شو او په ملك کښے د بادشاه د اصلاحاتو په سبب سوکالی راغله خلق پدے پوه شول چه بادشاه چه څه کوی نو څمونږ د ښیګړے د پاره ئے کوی. د خلقو عادتونه ئے داسے بدل کړل چه هډو دا کو او لوټ مار څه سوال نه پیدا کیدو. د حیرانتیا خبره خو دا ده چه. بادشاه خپله خو بے علمه سړے وو ولے د عالمانو او قابلو خلقو ډیر قدردان وو. دا لوئے بادشاه په کال (۱۳۱٦ ع) کښے د دنیا. تیر شو.

دده د مرګ نه پس دده په کورنۍ کښې د بادشاهۍ لائق یو فرزند هم نه وو پاتې- د سلطان په شروند کښې د هغه یو منظور نظر ملک کافور چه د ګجرات د فتح په موقعه سلطان ته په لاس راغلے وو د ډیر واک او اختیار خاوند شو- هغه د سلطان په شروند د هغه ځامن په بند کښې اچولی وو- د سلطان په مرګ ئې د هغه یو شپږ کلن ځوئے بادشاه کړو- بادشاهی په نوم خود شهاب الدین وه ولې په اصل کښې ملک کافور د هرڅه واکمن وو ملک کافور په عیش او عشرت کښې ډوب د چنګل ګیر چاپیر ماحول نه بے خبره شو- د سلطان حبشي وفادارو امیرانو هغه مړ کړو او د سلطان علاؤالدین یو ځوئے مبارک خان ئې په تخت کښینولو هغه په کال (۱۳۱۶ء) کښې د سلطان قطب الدین مبارک شاه په نوم په تخت کښیناستو- د کښیناستو سره سم ئې ښه ښه کارونه شروع کړل- خلقو باندے لګیدلی ډیر ټیکسونه ئې معاف کړل- ډیر بندیان ئې د بنده خلاص کړل- ډیر هغه جاګیرونه کوم چه ملک کافور په زور د خلقو نه قبضه کړی وو- هغه ئې خلقو ته واپس کړل- ولې د وخت سره ډیر زر بدل شو- ناتجربه کاری ځکه چه په ځان پوهیدو پوهیدو نو او به بیا د وخت تیرے شوې وې- ده د وزارت کار یو ښائسته هلک خسرو خان ته په



حواله کړو- او ځپله په عیش او عشرت کښې ډوب شو- ډیر زر هم د هغه ظالم خسرو خان د لاسه مبارک شاه مړ شو- او د هغه د مرګ سره د دے کورنۍ نه بادشاهی د همیش د پاره رخصت شوه.

د غلجیانو د تباهۍ نه وروسته چه کومه کورنۍ په هند حکومت کړی هغه د تغلق کورنۍ ده- دوئ لوئے خان داسے ستائی؛

بیا له پسه تغلق شاه چه امراوه
پرورش ئې د غلجیو په دولت وُ
بیا سلطان محمد شاه د تغلق شاه وه
چه دده په عصر خلق فراغت وُ
بیا له پسه فیروز شاه چه دده تره وه
چه په هند دده د چارے خاتمت وُ
بیا سلطان محمد شاه د فیروز شاه وه
چه نیولے ئې له وروره مملکت وُ
بیا له پسه ابابکر په تخت کښیناست
چه دے هم د فیروز شاه له ذریت وُ
بیا له پسه سکندر شاه د محمد شاه وه
چه په تخت ئې یوه نیمه میاشت مهلت وُ
بیا ئې ورور ناصرالدین په سریر کښیناست

چه په ده د بنوځوانانو ډیر قیمت ؤ[۸۷]

لکه چه اوویئیلے شو د قطب الدّین مبارك شاه د مرګ نه وروسته خسرو د هندوانو د بادشاهئ اعلان اوکړو. د هغه د څو میاشتو بادشاهۍ د ظلم زور او زیاتی نه ډکه وه. هغه د مبارك شاه یوه ښځه چه د دیول دیوی نومیده په خپل تصرف کښے واخسته او نورے بیبیانے د حرم ئے خپلوانو کښے اوویشلے نیواځے دا بلکه د علاؤالدّین د وخت هغه ټول درانه امیران ئے د خپلو عهدو لرے کړل او د هغوئ په ځائے خپل خپلوان په هغه منصبونو اولګول[۸۸]. امراؤ دے څیز ته په ښه نظر او نه کتل. ولے په ځان کښے ئے د مقابلے توان نه لیدلو. الله تعالیٰ ورته ډیر زر یوه داسے مشر په لاس ورکړو چه د هغه د مشرئ د لاندے دوئ ټول یوه موټے شول. فخرالدّین جونا چه وروستو ئے د تاریخ پاڼړی په محمد بن تغلق باندے پیژنی. د ډهلی نه اوتښتیدو او پلار غازی ملك چه د دیپالپور والی وو هغه ته ئے ځان اورسولو. د ډهلی ټول حال احوال ئے هغه ته په تفصیل سره بیان کړل. غازی ملك دیوه منظم فوځ سره راروان شو. په لاره کښے ورسره د علاؤالدّین د وخت ډیر امیران ملګری شول، خسرو خپل فوځونه مقابلے ته واستول ولے د قسمت سوړ ئے بنده شوی وه



ملتے ئے اوخوړه. د غازی ملك فوځونه په ډهلی ورننوتل، خسرو تښتیدونکے اونیولے شو. او د غازی ملك د لاسه اووژلے شو، د هغه خپلوان هم د تیرو ناکردو په سبب اووژلے شو. بیا غازی ملك یو عام اعلان اوکړو چه که د علائی کورنئ څوك شهزاده ژوندے پاتے وی نو رادِ شی چه تخت سنبال کړی. ولے هیڅوك نه وو. بیا د امراؤ په خوښه په کال (۱۳۲۰ ع) کښے ئے د ډهلی تخت سنبال کړو[۸۹] دے د اصل نه ترك النسل وو. د ده د پلار نوم تغلق وواو د بلبن غلام وو. غیاث الدّین تغلق په خپل همت او خوارئ تر دے ځائے را رسیدلے وو. د علاؤالدّین په وخت کښے ئے مغولی فوځونو ته ماتے ورکړی وے. د ده د بادشاهئ سره یوځل بیا د امن وامان دور بیرته راغے. علائی امیران کوم چه د خسرو د لاسه خراب تراب شوی وو هغوئ ته ئے لوئے لوئے جاګیرونه ورکړل. د انتشار په وخت کښے د چاچه څه نقصان شوے وو هغوئ ته ئے د هغے عوضونه ورکړل. د خپلو سرحداتو ئے داسے حفاظت اوکړو چه د ده په وخت کښے مغلو هډو د اجرات اونکړے شو چه په هند دِ حمله اوکړی. بادشاه خپله یوه نیك او پارسا سړے وو. زیات وخت به ئے په عبادت کښے تیرولو. د رعیت د آرام به ئے ډیر زیات خیال ساتلو. د مسافرو د آرام د پاره ئے

په لاړو کښې ښه انتظامات کړي وو۔ دیوه بغاوت د رفع کولو د پاره بنګالے ته تلے وو۔ هلته نه چه واپس شو نو د فتوحاتو په خوشحالئ کښې ورته جونا خان د تغلق آباد نه باهر درے میله لرے د دے موقعے د پاره جوړه شوي په یوه خاص ځائے کښې رو ښنئ اوکړه ، تازه جوړه شوي د لرګی محل د هاتهیانو د منډو تړهو په سبب راپرېوتو او پدے پرېوتو کښې غیاث الدّین تغلق هم هلته کښې مړ شو.؟ ، دده په مرګ دده ځوئ جونا خان محمّد بن تغلق د حکومت واګ او اختیار سنبال کړو۔ دے بادشاه څه ډیر عجیبه غوندے خوئ خصلت لرلو۔ کله به ورته زړه اوویل چه راشه دارالخلافه دَ دهلی په ځائے دولت آباد کړه۔ خلقو ته به ئے د هلته تلو حکم ورکړو۔ خلق به لاپس د ډیرو خوارو زارو او کړاؤونو لا هلته رسیدلی نه وو چه بیا به ئے ورته اوویل چه نه هم دهلے ټیک دے۔ کله به ورته خیال راغلو چه د تانبے سکّه جاري کړه۔ د هرهنډو کور یوه ټکسال جوړ شو۔ د تانبے سکے بے حسابه بازار ته راووتے بیا ئے حکم ورکړو چه نه تانبه د سکّه سازئ د پاره ټیک نه دے او هم هغه زړه سکّه به جاري وي۔ یوه ځل ئے زړه ته راغله چه راشه یره دا خراسان ، ترکستان ، خوارزم خو فتح کړه۔ څه کم څلورلکه فوځ ئے بهرتي کړو یو نیم کال ئے ښے زیاتے تنخواګانے ورکړے



ولے دویم کال ئے د ساتلو نه وو۔ هرڅه ئے تس نس کړل۔ نور خو لا پریږده۔ د چین د احستو د پاره روان شو۔ بے شمیره فوځونه ئے د اوسنی شاهراه قراقرم ( شاهراه ریشم ) په لاره پدے اراده روان کړل۔ بے حسابه فوځ ئے د لارو د سختو ښکار شو۔ څه ورته خلق اووژل۔ څه لږ غوندے واپس راتلو کښې کامیاب شول هغه ده۔ چنله مړه کړل۔ د بادشاه د دابے کارونو د لاسه د حکومت ټول نظام ګډوډ شو۔ په ټول وطن کښې بغاوتونه شروع شول هم پدے دوران کښې د دوآبه په خلقو اضافی ټیکسونه اولګول۔ محصول ئے دومره زیات کړو چه خلق د غصّے نه چنل ټول فصلونو ته اور ورته کړو او لاړل ځنګل ته اوتښتیدل۔ بادشاه هلته چرته په آرام پرېښودو۔ ورپسے ئے چنل فوځونه واستول۔ ولے په زور ئے راوستو کښې کامیاب نشو۔ بیا ئے په څه لږ ډیر تاوان ورکولو هغه خلق واپس چنلو علاقو ته راستنه کیدو باندے رضا کړل څه موده پورے خو دے بادشاه د وینے بهیدونه بغیر هیڅ نه کول ولے وروستو ورته چه هرڅه خیال په زړه راغلو خو د خلقو سره ئے نرمی شروع کړه۔ د ملک آبادئ او ترقئ طرف ته ئے پاملرنه اوکړه۔ خلقو ته ئے د سرکار د طرف نه تخم او کلیے ورکړے۔ دا ویو نهرونه ئے هم ځینی ځایونو ته بوتلل۔ دیوه بغاوت د ختمولو په

سلسله کښې گجرات ته تللے وو۔ د واپسئ په سفر کښې ټهټهه نومے ځائے کښې ئے حق اوړسيدو۔ د هغه په مرګ يوه نوموړې تاريخ دان ۔ لين پول څه ښکلې وينا کړی ده چه په هغه وخت دَ هندوستان مثال د هغه ناروغه سړی وو چه لويه تبه ئے تيره کړی وی او د خلقونه ځان يوه خواته په آرام اوسيدل غواړی[۹۱]۔ د ده هيڅ وروړ يا ځوئے نه وو۔ ۲۶ کاله ئے حکومت کړے وو۔ د ده په مرګ د ۔ غياث الدّين تغلق وراره ملك فيروز باربك د فيروزشاه په نوم په تخت کښيناستو۔ دا واقعه د کال (۱۳۵۱ع) ده۔ د دے بادشاه ټول وخت د خلقو د ښيګړے د پاره وقف وو۔ بے شميره جماتونه، سرايے کانړے، شفاخانے، تالابونه، د ښځو د اوبو کوهيان حمامونه، باغونه او داسے نور بے شميره پلونه ئے هم جوړ کړی وو. تر مودو موده پورے خلقو د خپل ښه انتظام، رحم او کرم او عدل و انصاف په سبب يادولو[۹۲]۔ چه کله په ځان پوره شو چه ځوانی لاړه او بوډاتوب ورته د ټمبو په شا ولاړ وو نو پخپل ځوئے شاهزاده محمّد خان ته سلطان ناصرالدّين والدنيا خطاب ورکړو۔ او حکومت ئے ورته خپل اوسپارلو۔ خپله يو کنج کښې په آرام کښيناستو او د الله تعالیٰ عبادت ئے شروع کړو ډير ژر د محمد شاه بادشاه د نالايقئ خبرے شروع شوے۔ او په



دارالسلطنت کښې بغاوت اوشو، سلطان محمّد شاه د مقابلے تاب رانه وړو او لاهور او تښتيدو۔ فيروزشاه دده په بے غيرتئ سخت خفه شو د ملك نه ئے اوشړلو او حکومت ئے خپل نمسی تغلق شاه ته چه د فتح خان نومی ځوئے ځوئے وو په حواله کړو۔ فيروز شاه د (۹۰) کلو په عمر کښې چه پکښې ئے اته ديرش کاله. باچائی کړے وه په حق اوړسيده۔ تغلق شاه ځوان او ناتجربه کار وو۔ ډير زر د امراؤ په لاس کښې پريوتو۔ د تخت کار و بار ترنه پاتے شو او په عيش او عشرت کښې ور ډوب شو۔ امراؤ ترنه بغاوت اوکړو او مړئے کړو۔ بل يوه شهزاده ابوبکر بن ظفرخان چه د فتح خان ځوئے وو ئے په تخت کښينولو۔ ده تقريباً يو نيم کال حکومت کړے وو۔ د هغه نه پس شاهزاده محمّد شاه چه فيروز د ډهلی نه شړلے وو په تخت دوباره ينولو کښې کامياب شو۔ لږ غوندے حکومت ئے اوکړو۔ او په خپل مرګ مړ شو۔ د هغه په مړينه د هغه ځوئے علاؤالدّين سکندر شاه چه په هايون خان باندے هم مشهور دے په تخت کښيناستو۔ ولے عمر ورسره وفا ونکړه او يوے نيمے مياشت حکومت کولو نه پس دے هم مړ شو۔ د ده کشر ورور ناصرالدّين محمود شاه د ده نه پس د ډهلی بادشاه شو۔ د ده دور د تغلق کورنئ د شاهزادګانو د سازشونو

نه ډک دے۔ هم دے بادشاه په وخت کښے کوډ تیمور د هند په لوړ تکل شروع کړو۔ د مغه مشی میرزا پیر محمّد خان په ۔ هندوستان حمله اوکړه۔ اُچ او ملتان ئے قبضه کړل ۔ د هغے نه فوراً پس امیر تیمور خپله هم د هند تابیا اوکړه۔ د دے بادشاه وخت د حکومت د تغلق د کورنۍ په دے وروستو بادشاه کانو کښے د ټولو نه زیات دے۔ د شلو کلو خواؤ شائے حکومت کړے وو۔ د تغلق د کورنۍ آخری بادشاه وو او دده په مرګ د هند واک او اختیار د نورو په لاس راغے. څنګښے لکه چه خانّ والی ؛

بیا له پسه چه تیمور په هند راکښیووت .

خضرخان ته ئے ورکړے حکومت وُ

بیا سلطان مبارک شاه د خضرخان وه

چه ښکاره ئے له جبینه سیادت وُ

بیا سلطان محمّد شاه دده وراره وه

چه پښتون دده په عهد په عزت وُ

بیا سلطان علاؤالدّین وه دده ځویه

چه اکثر ئے د نساء سره صحبت وُ[93]

لکه چه بره ئے ذکر اوشو د تغلق د کورنۍ مشری د ناصرالدّین محمود شاه د وخت نه پس کمزوری وه شوه ، اکثر امیرانو د بغاوت



جنډے پورته کړے ، هم په دے وخت کښے پیر محمّد خان د تیمور په وینا د خراسان نه راروان شو په اباسین راپورے وتو او د اُچ او ملتان قلعے ئے فتح کړے - د دے نه پس کوډ تیمور هم - خپله د کابل نه راروان شو۔ او د راجستهان په لار ملتان ته راؤرسیدو۔ په لار کښے ئے ټول خلق اووهل ، ډیر په آسانه ئے ډهلی هم فتح کړو۔ د ډهلی د فتح تاریخ ۱۷ دسمبر کال (۱۳۹۸ء) دے[94] - د تیمور فوځونو په ډهلی کښے اول ښه لوټ مار اوکړو او بیا ئے زبردست قتل عام اوکړو[95] - د ډهلی نه تیمور میرټ ته لاړو او د هلته نه هردوار ته - په دے دواړو ښارونو کښے ئے د قتل او لوټ مار داستانونه پریښودل او بیا روان شو د جمّوں په طرف د جمّوں راجه یو هوښیار سړے وو هغه بغیر د مقابلے نه ښار ورته په حواله کړو او ځان ئے د تباهۍ او بربادۍ نه په امان کړو۔ هلته ورته د هند ټول کښے نه وو ولے بیا هم ډیر زیات امیران ملاقات ته لاړل۔ ده خضرخان ته چه د سیّد کورنۍ یوه نوموړے نامتو وو لاهور ، ملتان او۔ دیپالپور په جاګیر کښے ورکړل او د دے سره سره ئے په هندوستان کښے جنیل نائب هم کړو[96] د تیمور په واپس تلو یوه امیر چه دولت خان نومیده ډهلی اونیوه۔ خضرخان د ملتان نه راروان شو او ډهلے

ئې محاصره کړو۔ تقریباً خلور میاشتې دا محاصره جارې وه۔ بنه ډیرې جګړې پکښې اوشوې۔ آخر د ډهلي خلق تنګ شول۔ دوئ بنار خپله خضرخان ته ورا وسپارلو۔ کوم ورانې ویجاړې چه د کوډ تیمور یرغل کښې شوې وې هغه د ده وخت کښې تر ډیره حده پورې هوارې کړې شوې او بنار ورو ورو بیا یوه ځل۔ آبادی او بنائست اوموندو۔ پس له اووه کالو او اووه میاشتو حکومت کولو خضرخان په کال (۱۴۲۱ء) کښې مړ شو۔ د پلار په مړینې د هغه ځوئې سلطان مبارك شاه د ډهلي تخت ته راونیوه۔[97] د دې بادشاه ډیر وخت په جنګونو کښې تیر شوې وو۔ پس له دیارلس کالو حکومت کولو د خپل وزیر ملك سرور د لاسه اووژلے شو۔[98] د ده په مرګ د ده وراره محمّد شاه چه ده ئې لکه د ځامنو پالنه کړې وه په تخت کښیناستو۔ ده د ناستې سره سم د مبارك شاه د وخت خینې امیران اووژل او د خپل قوت د زیاتولو اراده ئې اوکړه۔ د ده په وخت کښې پښتانه لږ په عزت وو۔ په تیره تیره بهلول لودهي ډیر زیات عزت اوموندلو۔ د ده بادشاهي ورځ په ورځ کمیده او یوه وخت داسې هم راغلو چه د ډهلي نه باهر د ده بادشاهي عملي طور سره ختمه شوه۔ ورو امیرانو ترنه هم سرکشي اختیار کړه۔ پدې بد نظمئ کښې هم ده یو ولس کاله حکومت



کړې دې۔ د ده په مرګ د ده ځوئې سلطان علاؤالدین شاه په تخت کښیناستو۔ او په ځان ئې د شاه عالم لقب کښیښودو دے د پلار نه هم زیات نالائقه ثابت شو۔ د ده بادشاهي د ډهلي نه اخوا دیخوا صرف تر شلو میلو پورې محدوده وه او حکم خو به داویل کیدل چه:

بادشاهی شاه عالم است      از دهلی تا پالم است۔

دا بادشاه د خپلو امیرانو د لاسه دومره تنګ شو چه لاهور په بدایون کښې میشته شو۔ د هغه وزیر حمیدخان بهلول ته خط اولیکلو چه راشه ډهلي واخله ځکه چه سلطان ځان ته بدایون غوره کړو۔ ولے پدې اړی ګړی کښې هم شاه عالم شل کاله حکومت اوکړو۔

بیا څکښې لوئې خان یوه بله د پښتنو کورنئ ستائ۔ والئ چه
بیا بهلول لودین بادشاه شو د ډهلي
چه په تخت ئې نه ویشت کاله سکونت وُ
بیا له پسه د بهلول ځوئې سکندر و
چه عمل ئې موافق په شریعت وُ۔
بیا له پسه ابراهیم وه د ده ځویه
چه بابر سره ئې جنګ په پانی پت وُ[99]

لکه چه او ویل شو بهلول لودي په ډهلي راننوتو. د حمید خان نه دې ځان خلاص کړو. او په (۱۹) اپریل کال (۱۴۵۱ ع) یې د ډهلي تخت د سلطان بهلول لودي په نوم سنبال کړو. د ډهلي تخت په هغه وخت څه د سرو کلونو توکړۍ نه وه چه دا سې په آسانه سنبالیدې شوه. د هر یو طاقتور امیر نظر د ډهلي په تخت وو. بهلول په ډیر کړاو او پس له خوارۍ ځان هلته مضبوط کړو. هم په کال (۱۴۵۱ ع) کښې هغه د ملتان د فتح کولو په نیت ډهلي پریښودو او روان شو، لا په لاره وو چه خبر شو د جونپور بادشاه محمود شرقي د ډهلي محاصره اوکړه. په هغه وخت کښې په قلعه د ننه سړي د نشیت برابر وو ځکه چه ټول د سلطان بهلول سره د ملتان فتح کولو د پاره اوتي وو. د سلطان بهلول خواښې چه چاچي یې هم وه او بي بي متو نومیده (د سلطان شاه ښځه) هغه د عقل نه کار واخستو او پښتنو ښځو ته یې د نرانو جامې واغوندولې او د قلعه په حفاظتي دیوال یې ځائې په ځائې اودرولې. د شرقي فوځونو مشر دریاخان لودي هم پښتون وو. دې تورزنې میرمنې هغه ته هم سوال جواب واستولو چه تا ته شرم نه درځي چه پخپل عزت د خپله لاسه بې عزتي کوې. دریاخان ته چه غیرت ور واچولې شو نو هغه د قلعه د



نیولو د پاره بهانې ملې شروع کړې. بهلول چه څه وخت د محاصرې نه خبر شو نو ډهلي په طرف راستون شو او ورسره ورسره یې د پښتونخواه مشرانو ته یو خواست اوکړو چه دا وخت ځمونږ عزت په خطره کښې دې. راشئ او دا خپل عزت موبچ کړئ. د سلطان بهلول هغه لیك دا سې وو:

«لوئ خدائې پښتنو ته د هندوستان باچائي ورکړېده د هندوستان د نورو باچایانو پرې دا نعمت نه دې پیرزو دوئ غواړي چه پښتانه د هندوستان نه ورك کړي. هندوستان یوارت او آزاد ملك دې. ټول عزیزان پکښې ځائیدې شي کړ تا سو دلته راشئ [نو] باچائي به تش په نامه خو ځما وي او هغه ټول ملك کوم چه اوس ځما په لاس کښې دې یا به یې نیسو ټول به سره ویشو. [نن صبا] پدې ورځو کښې د جونپور باچا خپلې لوئې لښکرې په ډهلي راچولې دي. د پښتنو میندې خوېندې یې کلابندې کړې دي. دا د پښتنو ننګ دې. هلا راپاڅئ او د جونپور د باچا غرور مات کړئ»[100]. کله چه دلخطونه د پښتنو مشرانو ته اورسیدو نو هغوئ ډیر په اتفاق د پښتونخواه نه روان شول او په هندوستان ور ننوتل[101]. د جونپور سلطان ته یې ډیر په آسانئ ماتې ورکړه او بیا اغلو

د بهلول سره یې دوا پسې خبره او چیړله- بهلول ورته اوویل
چه که څوك واپس وطن ته تلل غواړي نو تللې شي- دے
خلقو ته یې ډیر انعامونه او خلعتونه ورکړل او هغه څوك
چه په هندوستان کښې یې پاتې کیدل غوښتل هغوئ ته یې
لوئې لوئې منصبونه او جاګیرونه ورپه حواله کړل- ورسره
ورسره هغه خپلو امیرانو ته دا حکم ورکړو چه کوم یوه پښتون
چه د وطن نه راځي او ځان سره د لته ملګرتیا کول غواړي نو هغه
د زړه پورې انعامونه او نور سهولتونه ورکړئ- که چرې زه
د دے نه خبر شوم چه د ستاسو د لاسه یوه پښتون وطن ته
واپس خفه لاړ دے نو بیا به ورسره هغه څه اوکړم چه د چا
په خوب او خیال کښې هم نشي راتلې هم د ډهلي خینې سازشي-
امیرانو په بلنه یوه ځل بیا د جونپور بادشاه په ډهلي برید
اوکړو ولې ماتې یې په نصیب وو-[102] د هغه نه پس د هغه ځوئ
سلطان حسین د خپلې بخت په وینا یوه لوئې فوځ راغونډ کړو
او په ډهلي یې حمله اوکړه- ولے لکه د پلار د هغه په قسمت کښې
هم د پښتنو د لاسه ماتې لیکلې وه- بیا بیا په ډهلي د یورشونو
نه بهلول تنګ شو- جونپور یې هم تر نه واخستو-[103] بهلول په
خپل لوظ کلك ولاړ وو هغه ډیر په پراخټیا نه یواځې خپل -



جاګیرونه په دوئ کښې تقسیم کړل بلکه په خزانه کښې یې هم ورته
لویه برخه ورکړه- بهلول ټول عمر د پښتنو د ړنو مشرانو سره د
برابرئ سلوك کړے دے او هغوئ ته دا احساس چرے هم نه
وو شوے چه ګني دے حُوبز بادشاه دے- چرے هغوئ د بهلول
په موجودګئ کښې ولاړ نه دي پریښودي شوي- هغه به د هغوئ
سره ټول عمر په مزکه ناسته کولو- د هغوئ نه په اعلیٰ اس یې
چرے هم سوړلی نده کړې- نه یې ورته چرے حکمونه ورکړي
وو- اکثر به یې ورته دا ویل چه که چرے تاسو په خیال د
پښتنو د مشرئ د پاره ځانه څوك بل ښه سړے وینئ نو زه ډیر
په خوشحالئ زه دا خپله بادشاهي هغه ته په ورکولو خوشحال
یم- هغه به هم د هغوئ سره په یوه ځائې خوراك کولو- بهلول
د مرګ نه مخکښې خپل ځوئ نظام خان ولی عهد اوټاکلو- بهلول
په کال (٨٩- ١٤٨٨ع) کښې د دنیا نه تیر شو- باچائ یې اته دیرش
کالونه زیاته کړې ده- نظام خان د پلار په مرګ باچا شو-
هغه ځان ته د سکندر لودهی لقب خوښ کړو- د سکندر لودهی
د باچائ وخت شپږ ویشت کاله دے- دا باچا خپله هم عالم وو-
او د عالمانو قدردان هم وو- د دے په وخت ډهلې د علم او فن
لوئې مرکز شو- لوئې لوئې عالمان د لرے لرے ځائې ډهلي په لوړ

ړاسوان وو۔ بادشاه فارسي شاعر ته ډير زيات اهميت ورکړو
او په هندوانو يې هم فارسي زده کړه۔ د علم او زده کړې سره
سره بادشاه فتوحات هم کړي وو۔ د ډهلي علاقه يې تر بنګاله
اوږدوله۔ د هغه وخت کښې د باغيانو بيخ کنی اوشوه او د ډهلي
خلقو د آرام ساه واخيسته۔ د غلې نرخونه ارزان وو۔ رعيت په
امن وو۔ د ډاک څوکۍ انتظام يې دومره اعلیٰ وو چه دوړځے۔
وړځے خبر به ورته راتلو۔ د هغه په مرګ د سکندر ځوئے۔
ابراهيم لودهي په تخت کښيناستو۔ ابراهيم لودهي د ځوانۍ په نشه
مست وو۔ په تخت د کښيناستو سره يې څپل نور ورونړه محمود خان
اسمعيل خان، حسن خان او شهزاده اعظم همايون په هانسۍ
کښې بنديوان کړل۔ بيا يې څه موده پس د څپل بل ورور جلال خان
نه هم ځان خلاص کړو۔ هغه د پښتنو مشرانو زوړ ماتول غوښتل
دے د پاره يې ډير نوموړي د قلعه ګانو په تورو تمبونړ ندانونو
کښې بنديوان کړل۔ نه صرف دا بلکه دا حکم يې ورکړو چه۔
د لبار کښه به ټول اميران د بادشاه په موجودګۍ کښې د هغه په
وړاندے لاس په نامه ولاړ وي۔ هغه مشران چه د بهلول او
سکندر وخت يې لا ميرنه وو، هغوئ ورته چه کوم عزت ورکړے
وو هر وخت به د هغې تذکرے کيدے هغوئ ته دا نوی



خبره وه۔ چه د بادشاه په موجودګۍ کښې به لاس په نامه ولاړ
وي۔ دا د پښتنو خاصه نه وه۔ نتيجه يې ډيره راوخته۔ په
ټول وطن کښې د ابراهيم خلاف بغاوتونه شروع شول۔ او ده
جونپور، بهار او پنجاب د ډهلي نه بغاوت اوکړو۔ نور خو لا
پريږده څپل تره علاؤالدين د کابل بادشاه بابر مغل ته بلنه
ورکړه چه راشه او موږ د ابراهيم نه خلاص کړه۔ بابر څنګښې هم۔
څو ځله په هند کړي وے ولے څه کاميابي يې نه وه موندے۔ اوس
چه ورته هم د پښتنو د لاسه بلنه راغله نو ډير زر يې د هند په
طرف بنا اوکړه۔ راروان شو او په لاره ورسره د پښتنو لښکرے
يو ځائے کيدے۔ آخر د پاني پت په لويه ډاګه کښې د واړه فوځونه
سره مخامخ شول۔ په يوويشتم اپريل کال (۱۵۲۶ء) کښې د پاني پت
په ميدان هغه خونړے جنګ اوشو چه تر مودو مودو يې خلقو
ذکر کولو[۱۰۳]۔ د سلطان ډير خواخوږي د سره تير شول۔ هغه د
څپلو اميرانو سره ولاړ وو چه يو نوموړے محمود خان راوړاندے
شو او سلطان ته يې اوويل چه ځموږ حالات ډير زيات خراب
دي۔ بنه به دا وي چه ته ميدان پريږدے۔ چه بادشاه بچ
شي نو د هغه د پاره بيا ډيره بل فوځ سره دوباره راتلل څه ګران
نده۔ ډير زر به خدائے تعالیٰ پښتنو ته موقعه په لاس ورکړي

او موږ به مغل د هندوستان نه وړک کړو- سلطان جواب
ورکړو چه محمود خانه د باچایانو دپاره دا ډیره د بې عزتئ-
خبره ده چه د میدان نه اوتښتي- اخوا دیخوا نظر واچوه ځما
ملګري، ځما خواخوږي په وینو لړلي پراته دي- دوئ د شهادت
جام نوش کړے دے- یوه دا دے پروت دے- بل هغه دے ښکاري
دے ټولو په ما ځان قربان کړو- خپله ځما داس خپے هم تر
ګوډو پورے په وینو لړلي دي- کله چه زه باچا وم بخت ځما
ملګرے وو او س بخت ځما نه مرور دے- او د مغلو په طرف
راته ښکاري- ښه به داوي چه زه هم لکه د خپلو ملګرو په وینو
اولړله شم-[۱۰۴] د سحر نه ترماښامه پورے یوه خونړے جنګ اوشو
ډیرے مېندے بورے شوے چه پکښے د ابراهیم مور هم شامله وه
د نهه کالو د باچائ نه پس ئے تخت ئے په مغلو بیلیدو- دد
لوئ انقلاب نه پس خان نور واقعات داسے بیانوي؛

بیاله پسه د ډهلي بادشاه بابر شو
چه ئے کار د پښتانه په برکت وُ
بیاله پسه د بابر ځوئے همایون وه
چه بے حده ئے ښکر ډیرے دولت وُ
بیاله پسه شاه عالم دحسن سور وه



چه همایون د ده د لاسه هزیمت وُ
بیاله پسه اسلام شاه د شاه عالم وه
چه له پلاره نه هم زیات د ده جرأت وُ
بیاله پسه عادل شاه د ده تربور وه
چه پښتون د ده په دور فضیحت وُ[۱۰۶]

بابر مغل د دولسو کالو په عمر کښے د فرغانے بادشاه شوے
وو- ډیر زر د خپلوانو د لاسه په تخت پریښودو مجبور کړے
شوے وو- په تیښته د افغانستان په لور راغلے وو- د
بدخشان د بادشاه خسرو خان نه ئے ملك واخستو او د ارغون
کورنئ د محمد مقیم نه ئے کابل تر لاسه کړو-[۱۰۷] د کابل نه د
هغه نظر هم په هندوستان پریوتو- ولے په ځان کښے ئے لا دومره
توان نه لیدلو چه په هند داسے حمله اوکړي- ډیر زر هغه
ته الله پاك دا موقعه په لاس ورکړه- د ابراهیم لودهي د لاسه
زپلي شوي خلقو هغه ته په هند د حملے کولو دعوت ورکړو
هغه د دے نه مخکښے څلور ځله په هند حملے کړي وے[۱۰۸]- ولے د
هغو څه خاص نتیجه نه وه اوتلے- او س چه خپله ورته د هند
خلقو بلنه ورکړه نو بیا هغه د وخت نه پوره پوره فائده واخسته[۱۰۹]
هم هغه وخت عالم خان د ابراهیم نه بغاوت اوکړو- ابراهیم

دلاسه ئې ماتې اوخوړه او په تېښته کابل ته په رسیدو
کښې کامیاب شو- هغه هم د بابر سره یوځائې شو[۱۱] د پانی پت
په لویه ډاګه کښې خونړې جنګ اوشو چه نتیجه ئې د مغلو په
حق کښې اووته - ابراهیم سره د ډیرو پښتنو د چیلے پښتو نه
ځار شو- د لودهی د کورنۍ نه بادشاهی د مغلو کورنۍ ته
لاړه - لکه چه خان هم دې طرف ته اشاره کوی چه بابر خو ځان
کښې هیڅ کله دا توان نه لیدو چه په هند حمله اوکړی او یا
د ابراهیم سره مقابله اوکړی- دا هم نومړی ټولک نه د ابراهیم چیل
خپلوان وو چه د مغلی فوځ د طرف نه هم د پښتنو برخلاف-
اوجنګیدو- او دا سې په پانی پت کښې مغلو په پښتنو برې اوموندلو-
په کال (۱۵۳۰ ع) کښې بابر مړ شو- د هغه په مرګ د هغه ځوئې همایون
د هند په تخت کښیناستو- د پلار نه بلکل برخلاف ډیر آرام
پسنده او عیش پرست بادشاه وو- ډیر زیات افیم به ئې
خوړل- پلار ورته بے حده دولت او لوئې فوځ پریښې وو
ولے د پلار په مرګ د خپل نااهلیت په سبب دا هر څه ئې
په سیند لاهو کړل- هم د هغه په وخت پښتانه بیا بیداریدل
شروع شول- هغوئې کښې د اتفاق بخری راویښې شول- د
سوری کورنۍ دیوه وګړی د حسن خان د ځوئې فرید خان



د جنډے لاندے راغونډ شول- ډیر زر د پښتنو او مغلو جنګونه
اونښتل- مشهور جنګونه چوسه (کال ۱۵۳۹ ع) او قنوج د
همایون پانړه د هندوستان نه غونډه کړه- همایون د هندوستان
نه په تېښته د ایران په طرف روان شو- په کال (۱۵۴۴ ع)
کښې ئې د هند سرحد پاد کړو او لاړو د شاه طهماسپ صفوی
چه په هغه وخت کښې د ایران بادشاه وو د هغه نابلے میلمه
شو[۱۱۱] د ایران په پایه تخت کښې میشته شو او پس له ډیرو
کالونو د هغه ځائے نه د هند په لوړ راروان شو[۱۱۲]

د همایون په تېښته د هندوستان په مخ د هغه کورنۍ
نوم راځۍ چه ترننه پورے پرے پښتانه نازیږی- د هغه کورنۍ
دیوه وګړی عدل او انصاف نن هم پښتانه مثالی ګڼړ کوی
دا د سوری کورنۍ د حسن خان د ځوئې د فرید خان چه دنیا
ئې د شیرشاه سوری په نوم پیژنی حکومت دے - د شیرشاه
د عدل وانصاف قیصے خو پدے وخت دے مضمون کښې بیان
کیدل ناممکنه ده - بس دغه یوه مثال ئې کافی دے چه وئیلے
کیږی چه د شیرشاه په وخت کښې یوه بوډئې هم د کالو ډکے
توکرئې په سر چرته روانه وی نو د هیڅ چا دا مجال نشته چه
دے بوډئې ته په بد نظر اوګوری- د رعیت د ښیګړے د پاره

شیرشاه ډیر زیات کارونه کړی دی[۱۱۳] - دهغه په وخت کښې د هندوانو او مسلمانانو په مینځ کښې رواداری مثالی شوی وه - د هغه په مړګ [کال ۱۵۴۵ع] سبحان رائے بټالوی لیکی چه هغه - بادشاه د دنیا تیر شو چه دچا په وخت کښې د انصاف داسے حال وو چه بیزے او مزری به په یوه ځائے اوبه څښلے[۱۱۴] - د پلار په مرګ اسلام شاه د حکومت واګے ترلاسه کړے - یوه خوا ئے د رعیت به حده زیات خیال ساتلو ولے بل خوا ئے په فوځ ډیره سختی رواحستله - عن چه دا قانون ئے جاری کړو چه د نوکرئ سره سم به د امیرانو او وزیرانو جاګیرونه هم ضبط کیږی - د وزیرانو او امیرانو د زور ډ ماتولو دپاره ئے پکښه ډیر او وژل[۱۱۵] - پس له اته کالو حکومت کولو په حق اورسیدو - د رواج مطابق د اسلام شاه لس کلن ځوئے فیروز شاه په تخت کښینولے شو ولے د چپل ماما مبارزخان د لاسه په دریمه ورځ اووژلے شو - دامبارزخان د سلطان محمد عادل په نوم د دهلی په تخت کښیناستو - د بادشاهئ په رموز ناپوهه وو - نتیجه ئے دا اوخته چه دهرے خوانه دَ تخت د عویدار را پیدا شول - هم د پښتونو ابراهیم خان سوری او سکندر خان سوری د خپلے خپلے بادشاهئ اعلان اوکړو - همایون بادشاه د ایران نه د پښتنو دے بے اتفاقئ ته په غورکتل



په کال (۱۵۵۵ع) هم د ایران د بادشاه ورکړی شوی امداد سره د هند په لور رادوان شو - هغه بغیر د څه کړاؤنه د تخت و تاج دے دعویدارو ته وار په وار ماتے ورکړو - او داسے یو ځل بیا د پښتنو د چپلو کښے د بے اتفاقئ دلاسه د هند تخت او بیللو او مغل بیا په هند کښے میشته شول - نور مغل باچایان بیا خان داسے ستائی؛

بیاله پسه د همایون ځوئے اکبر شو

چه وهرلوری ته مل د ده نصرت وُ

بیاله پسه جهانګیر د اکبر ځویه

چه د ده په دور هند لکه جنت وُ

اوس پادشاه شاه جهان د جهانګیر دے

چه په بلخ په بدخشان د ده نوبت وُ[۱۱۶]

همایون هندوستان ته په دوباره راتګ ډیره موده ژوندے پاتے نشو - دیوه کال دننه مړ شو - اکبر هغه وخت په پنجاب کښے وو د پلار د مرګ نه چه خبر شو نو په کلا نور نومے ځائے کښے ئے په (۱۴) فروری کال (۱۵۵۶ع) تخت نشینی اوشوه[۱۱۷] - د مغلو د کورنئ دے بادشاه سره بخت او تخت دواړه ملګرتیا اوکړه - داکبر نه ډیر زر اکبر اعظم جوړ شو - د ده پنځوس کاله بادشاهی تړله په فتوحاتو

کښې ډېره شوې ده - د تفصیلي ذکر د پاره د ابوالفضل کتاب «اکبرنامه» موجود دے[118] د اکبر په مرګ د هغه ځوئ سلیم د ابوالمظفر - نورالدّین محمّد جهانګیر په نوم په تخت کښېناستو - د هغه تخت نشیني په ۱۲ اکتوبر کال (۱۶۰۵ع) په آګره کښې اوشوه[119] - په هغه وخت د هغې عمراته دېرش کاله وو - د ده په وخت کښې جنګ او جدال لږ آرام او موندو - د پښتنو سره د څه معمولي غوندې جګړو او د خپل ځوئ شهزاده خسرو د بغاوت نه علاوه بل څه دا سے قابل ذکر اهم کړے دده بادشاه په وخت کښې نه دے شوے جهانګیر خسرو په اګرے په کوټ کښې بندیوان کړو او د هغې د لیدو د پاره به میاشت کښې یو ځل ورته ورتلو[120] - د هغه د وخت د هند متعلق ځینې نایابه معلومات په هغه وخت کښې هند ته راغلي یورپین سیلګرو په تفصیل سره کړي دي - هاکنز او ټېري غوندے مشهور کسان د هغه په وخت د هندوستان سیل ته راغلي وو - او بیا ئے دده خاص حالات په تفصیل سره بیان کړي دي[121] - جهانګیر په اته پنځوسم د صفرے سنه ۱۰۳۷ھ بمطابق (۲۸) اکتوبر کال (۱۶۲۷ع) او مړ او د هغه په مرګ د هغه ځوئ شا هزاده خرّم د شاه جهان په نوم په آګره کښې په (۶) فروري کال (۱۶۲۸ع) په سریر کښېناستو[122] - د شاه جهان زمانے ته مغل لیکوال او نور تاریخ دانان د سنهري



دور وائي - د هند نه لرے دده ستړګے لګ د خپلو مشرانو په بلخ او بدخشان ښخې وے - هغه شروع د قندهار نه اوکړه، په - کال (۱۶۳۸ع) کښې ئے قندهار د ایرانیانو نه راونیولو - د قندهار نه پس شاه جهان د بخارا زیر اثر بلخ او بدخشان ته مخ واړولو هغه وخت هلته ډیر زیات اهم کړے وو - د شاه جهان د پاره حالات ډېر سازګار وو - په کال (۱۶۴۶ع) کښې هغه شاهزاده مُرادبخش د لوئے فوځ سره د بلخ د نیولو د پاره واستولو - مراد سره د هغه وخت مشهور جرنیلان هم وو - چه پکښې د علي مردان غوندے نوموړے هم شامل وو - د بخارا بادشاه نظر محمّد او تښتیدو او د هغه بے شمېره زیات مال اسباب مغلو په لاس ورغلو[123] دده لوئے بادشاه آخرے ورځے ډېرے بے آرامے تېرے شوې وے - د خپلو ځامنو د لاسه خراب تراب شوے وو - اورنګزیب عالمګیر د لاسه په قلعه کښې په حیث دیوه بندي په حق رسیدلے وو -

دده لوئے قصیدے په آخر کښې خانؔ دده د لیکلو وخت داسے ښائي :

که دده ویُلو کال غواړې له مانه
په حساب کښې واوړه کال د قرشت وُ[124]

د دوست محمد کامل صیب د تحقیق مطابق دده د عیسوي

کال (۱۶۴۵ء) جوړېږي.

داخو وه دخوشحال بابا په کلیاتو کښې د تاریخ نویسۍ یوه لنډه شان جائزه - د تاریخ لیکوالو کار پدے لاره عکښېږتلل دی - دخوشحال بابا دشروند ویرا پخونه لا دا سے هم شته چه لا په تیارو کښې پراته دی او خدائے خبر چه لا تر څو مره مودو به پراته هم وی - د اس نړا ته راویستل پکار دی - هم د دے اړخونو په راڅرګندولو به ډیر پښتانه د خپلو دمشرانو د تاریخ نه خبر شي - داخو یوه منلی شوے خبره ده چه کوم قام خپل مشران هیروی هغوئ خپل ځانونه د خپله لاسه د دنیا دشرونډو قامونو د قطارنه وړک کړي.



# حواله جات

۱- ګل پاچا «الفت»،

ملی قهرمان خوشحال خان خټک

کابل، ۱۳۴۴- ص ص: ۱۵-۱۴

۲- ایضاً، ص ۱۲۱

۳- خوشحال خان خټک،

کلیات

(مقدمه دوست محمد خان کامل) پېښور، ۱۹۵۲، ص: ۱۵۲

۴- S.M. Jaffar.

The Mughal Empire: From Babur to Aurangzeb

Peshawar: 1936, pp: 254-255

۵- کلیات ایضاً ص؛ ص- ف

۶- بابر مغل د ترو او تربورانو دلاسه تخت پرېښودو باندے مجبوره کړے شوے وو - د هغه سکه ورور جهانګیر هم د هغه د باچائۍ مخالفت کړے وو - کله چه بابر د سمرقند په حوا روان شو نو جهانګیر د فرغانے په تخت فوراً قبضه اوکړه - د بابر ځوئے همایون هم د

خپلو دلاسه دړ په دیکیه شوے وو- یوه خوا پرے کښے پښتنو دلاسه ځوندموړ شوے وو نو بل خوا خپلو وړونړو هم آرام ته نه پرے ښودو- اکبر بادشاه هم دخپل وړور میرزا حکیم بغاوت لیدلے وو- هغه خو لاپریږده خپل یو اځینی ځوئے شهزاده سلیم هم تر نه څوځو ځله بغاوت کړے وو- هم دے سلیم (جهانګیر) بیا خپل وخت کښې د خامنو بغاوتونه لیدلی وو دشهزاده خسرو او خرم جګړے خو د ړوزانه معمول دے- بیا شاه جهان بادشاه ته د خپلو بغاوتونه او په آخر کښے اورنګزیب ته خپل خامن را اوچتیدل او بیا د نوړو وړوستو مغلو دوړم د داسے قسم بغاوتونه ډک پروت دے.

۷- کلیات- ایضاً ص: ۱۵۲

۸- ایضاً

۹- Ishwari Prasad

A Short History of Muslim Rule in India

Allahabad, 1963. P. 447

۱۰- کلیات ایضاً ص. ۱۴۴

۱۱- Syed Amir Ali,

The History of Saracens,

London 1953. P. 383



۱۲- Ibid. P. 398.

۱۳- Jaffar, op. cit. P. 10.

۱۴- V. D. Mahajan,

India since 1526.

Delli, 1961. P. 125

۱۵- Khafi Khan,

History of Aurangzeb

Karachi, Tr Moinul Haq, 1975 P. 211

۱٦- کلیات- ص: ۲۵۴

۱۷- Mahajan, op. cit. P. 121

۱۸- Olaf Caroe,

The Pathans

London, 1964. PP. 332-333

۱۹- کلیات- ص ص: ق- ر

۲۰- Ahmad Hasan Dani

Peshawar: Historic City of the Frontier

Peshawar, 1969. P. 90

۲۱- کلیات- ص ص: ش- ت

۲۲- ایضاً ص ص: ۲۱۵-۲۱۴

۲۳- Abdul Haleem,
History of the Lodi Sultans of Delhi and Agra
Dhakka, 1961, PP-1-22

۲۴- عبدالشکور رشاد
لودی پښتانه
کابل، ۱۹۵۷- ص: ٦٨

۲۵- Abbas Khan,
Tarikhi-Sher Shahi (The History of India)
Lahore, (Elliot and Dowson) Islamic Publications, 1976. P-307

۲۶- M-A. Rahim,
The History of the Afghans in India (1545-1631)
Karahi, 1954. PP-52-53.

۲۷- Abdul Qadir al Badauni,
Muntakhib at Tawarikh vol: I
Karahi, 1976, P-410

۲۸- Zulfiqar Ali Khan,
Sher Shah Sure
Lahore. 1925- PP-18-19



۲۹- Mahajan, op. cit. P.31

۳۰- Stanley Lane Poole.
Medieval India under Mohammadan Rule
London, 1915. P. 236.

۳۱- عبدالروف نوشهروی، محمد یوسف کاکاخیل ـ
دُرشهوار
پېښور، ت،ن - ص: ۳۸.

۳۲- Iqtidar Hussain Siddiqi,
Some Aspects of Afghan Despotism in India
Lahore, nd P.94

۳۳- کلیات

۳۴- Jaffar, op cit. PP 10-12

۳۵- Watthen and Gasset
A History of India
Lahore 1927

دلته هم د هغې واقعې ذکر کول مناسب گڼم کوم چه د-
ابراهیم د مرګ نه مخکښې پېښه شوی وه - د سلطان یوه وفادار امیر
محمود خان راوړاندې شو او سلطان ته ئې اوویل چه ښکاری

دلته چه مغل به موږ باندے برے کوی، مناسب به داوی چه بادشاه د جنګ د میدان نه لاړ شی اوکله چه موقع بیامومی نو مغلو ته دماتے ورکړی- بادشاه ورته فوراً په جواب کښے اوویل چه اے محمودخانه! دا د بادشاهانو دپاره ډیره د سپکاوی خبره ده چه د میدان نه اوتښتی اوګوره څوملګری، وزیران، امیران اوسپاهیان سره څو د لوړو خواخوږو شهیدان شول- یوه هغه دے پروت دے- بل دادے پروت دے- زه به اوس چرته څم- څو داس خپه هم په وینو کښے بوختے شوی دی- زه بادشاه یُم اوخپله خوښه م بادشاهی کوله- اوس بخت د مغلو ملګرے دے- نو په ژوند کښے ماته هیڅ خوند ندے پاتے- زه هم داغواړم چه د خپلو ملګرو سره سم په خاوړو او په وینو کښے لت پت پریوځم- داسے اوویل- اولکه د نورو پښتنو بهٔ خان د پښتنی هودنه څارکړو. دا واقعه د دے لاندے کتاب نه نقل کړے شوی ده.


Ahmad Yadgar,

Tarikhi-Salatin - Afghana (The History of India)

Lahore, Elliot and Dowson, 1976- P.295

۳۶- Zaherud Din Mohammad Babur-

Babur Nama (Memoirs of Babur) vols I.II,

Lahore, (tr. A.S. Beveridge), 1975





۳۷- م- سیال،

ایمل خان

کابل- ت ن- ص: ۳۹

۳۸- Jadu Nath Sarkar,

History of Aurangzeb

Calcutta, 1928. P.247

۳۹- کلیات- ص، ۳۱۸

۴۰- Waldimar Hansan,

The Peacock Throne: The Drama of Mogul India

Great Britain, 1973. PP: 381-382.

۴۱- کلیات- ص: ۲۷۶.

۴۲- M.P Srivastava,

Policies of The Great Mughals

Lahore, 1979. PP: 129-130

۴۳- سیال- ایضاً- ص: ۱۰۵

۴۴- ایضاً- ص ص: ۳۸-۳۷

۴۵- کلیات- ص ص: ۵۲۸-۵۲۶.

دلسې چه مغل به موږ باندې برې کوي ، مناسب به داوي چه بادشاه
د جنګ د میدان نه لاړ شي اوکله چه موقع بیا مومي نو مغلو ته دماتې
ورکړي. بادشاه ورته فوراً په جواب کښې اوویل چه اے محمد خانه!
دا د بادشاهانو دپاره ډیره د سپکاوي خبره ده چه د میدان نه اوتښتي
اوګوره څما ملګري ، وزیران ، امیران او سپایان ټول څما د نوړ و
خواخوږو شهیدان شول. یوه مغز دبے پروت دے. بل داد ے
پروت دے. زه به اوس چرته ځم. څما داس ځپه هم په وینو
کښې بوختې شوې دي. زه بادشاه وُم او بچپله خوښه م بادشاهي
کوله. اوس بخت د مغلو ملګرے دے. نو په ژوند کښې ماته.
هیڅ خوند ندے پاتے. زه هم داغواړم چه د خپلو ملګرو سره
سم په خاوړو او په وینو کښې لت پت پریوځم. داځ اوویل.
اولکه د نوړو پښتنو ځان د پښتني هوډ نه ځار کړو. دا
واقعه د دے لاندے کتاب نه نقل کړے شوي ده.

Ahmad Yadgar,
*Tarikhi-Salatin-Afghana (The History of India)*
Lahore, Elliot and Dowson, 1976- P.295

٣٦- Zaherud Din Mohammad Babur-
*Babur Nama (Memoirs of Babur) vls I.II,*
Lahore, (tr. A.S. Beveridge), 1975



٣٧- م- سیال ،
*ایمل خان*
کابل- ت ن- ص: ٣٩

٣٨- Jadu Nath Sarkar,
*History of Aurangzeb*
Calcutta, 1928. P.247

٣٩- *کلیات*- ص، ٣١٨

٤٠- Waldimar Hansan,
*The Peacock Throne: The Drama of Mogul India*
Great Britain, 1973. PP: 381-382.

٤١- *کلیات*- ص: ٢٧٦.

٤٢- M.P Srivastava,
*Policies of The Great Mughals*
Lahore, 1979. PP: 129-130

٤٣- *سیال*- ایضاً- ص: ١٠٥

٤٤- *ایضاً*- ص ص: ٣٨-٣٧

٤٥- *کلیات*- ص ص: ٥٢٨-٥٢٦.

۴۶- J. N. Sarkar,
History of Aurangzeb. vol: III
Karachi, 1968. pp. 69-70

۴۷- Ibid. p. 155.

۴۸- Dost Mohammad Khan Kamil,
On a Foreign Approach to Khushal.
Peshawar, 1968. pp: 69-70.

۴۹- کلیات- ص: ۶۱۲

۵۰- Prasad, op. cit. pp: 247-248

۵۱- Mohammad yunus,
Frontier Speaks.
Lahore, id. p. 37

۵۲- Prasad, op. cit. p. 505.

۵۳- کلیات- ص ص: ۶۱۳-۶۱۲-

۵۴- Sarkar. vol III. op. cit. p. 156.

۵۵- Sarkar, op. cit. p. 69 (Calcutta ed)

۵۶- د مغلو سرکاری لیکوال خافی خان پخپل کتاب کښې (ص: ۲۴) د
پوه جنګ ذکر کوی - دا جنګ د مغلو او پښتنو تر مینځه شوې وو



هغه وائی چه آغرخان د اورنګزیب نوموړی ترك النسل جرنیل
د پښتنو یوه ډله ته ماتې ورکړه - دبې شمیره پښتنو مال اسباب د
مغلو په لاس راغلو - پښتانه بقول د هغه د مغلو په وړاندې داسې
زغلیدل لکه د ګیدړو بیزو کندك - د ډیرو پښتنو ئې لاس او ترلی او
د خپلو اسونو په وړاندې ئې زغلونه ورکول - د دې نه پس بیا
خافی خان د «آغرنامې» یو څو شعرونه را نقل کوی چه کله هم -
پښتنو د مغلو سره مقابله کړی ده نو مغلو پرې برې موندلی
دی - د مغلو د میړانې د ذکر نه پس وائی چه کله هم د دوئ د مقابلې
خیال راغلی دی نو هم داسې تښتیدلی دی لکه چه د «بز منځ په
مخکښې ویښته» - د پښتنو په دشمنئ کښې د مغلو وظیفه خوړ لیکوال
څوك چه خان ته تاریخ دان وائی دومره لیونی شوی دی
چه هغه داسې بنکاری د هندوستان په تاریخ هیڅ و نظر اچول
نه غواړی کوم چه د پښتنو د تورې او میړانې ډك دی - هغه هیڅ
د پښتنو د تورې څه لیدلی ندی - د ده نه زاړه پښتانه میړنی شول
او د احقیقت هم وو چه هغه وخت پښتانه دومره غوړ زیدلی
وو چه دوئ سره هم داسې سلوك پکار وو - لویه خان که هر څو
ورته په بیا بیا ویلی چه:
بله هیڅ لیدلے نشی په دا مینځ کښې - یا مغل د مینځه ورك یا پښتون خوار

دوی ځانونه کانړه کړي وو او د مغل په منصب پسې لالچ لیونی
کړي وو.

٥٧- J. W. Spain,
*The Pathan Borderland*
The Hague, 1963. p. 90

٥٨- H. G. Raverty,
*Selections From The Poetry of The Afghans*
London, 1862. p. 144

٥٩- Caroe, *op. cit.* p. 235

٦٠- Srivastava, *op. cit.* p. 131.

٦١- کلیات- ص: ٥٩٥.

٦٢- د ملي (ګائیډ)
ټیو دهلي- ص ص، ١٢-١١

٦٣- ایضاً: ص ص: ١٧-١٤.

٦٤- ایضاً: ص: ١٨

٦٥- کلیات- ص: ٥٩٥

٦٦- سجان رائې بټالوی-
خلاصة التواریخ- لاهور. ١٩٦٦. ص: ٢١٣



٦٧- کلیات- ص: ٥٩٥.

٦٨- وئیلې کیږي چه د قنوج د راجه جې چند یوه پیغله چې مخ لوړي
د مخې نوم سنجوګتا وو- جې چند د یوه فتح په خوشحالۍ کښې د یو
لوئې جشن اهتمام اوکړو- هم په دې جشن کښې به سنجوګتا ځان
ته د شوهر ملګرې ټاکلو د رسم به د سویمبر په نوم یاد ولې کیږي
په ټاکلي شوي ورځ بې شمیره شاهزادګان په قنوج کښې موجود وو
دیوه میلې په شان ګڼه ګوڼه راغونډه شوې وه - ثناخوانان
به د هر یوه مخکښې اودریدل او د هغه صفتونه به ئې په بار بار
ستائیل- شاهزادګۍ د امبیل په لاس په ټولي کښې ګرځیده، د
هغه د زړه پورې شاهزاده پکښې یوه هم موجود نه وو- هغه د
پرتهوی راج چوهان (رائې پتهورا) د میړانې قیصې اوریدلې
وې- ورسره ورسره ئې د هغه د ځوانۍ د ښائست ستائینې
هم لا هیرې نه وې- په دې ډله کښې هغه هم ناست وو ولې په بله
جامه کښې ځکه چه د سنجوګتا د پلار او د پرتهوی راج د پلار چپلو
کښې نه لګیده ، هغه هم د شاهزادګۍ ښائست ته ګوته په خوله-
حیران وو- هغه چه په ځان پوهیدو پوهیدو نو د شاهزادګۍ د
ښائست عشق ئې په زړه ښخ شوې وو- د ټول ټولي په مخکښې
د ډک میدان نه د زرګونو خلق په وړاندې شاهزادګۍ اوچته

کړه- بیا شاهزادګئ هم هغه دخپل زړه او بدن واکمن کړو وائی چه بې چند خپله دابے عزلت نه وه هیره کړی- ددے دپاره هغه چرته هم په ښروند کښے پرتهوی راج ته دا خبرے دزړه نه وو وئے- بغیر د هغه نه تولو راجکانو د پرتهوی راج ملګرتیا اوکړه.

۶۹- Prasad, op. cit. pp: 57-58

۷۰- کلیات- ص: ۵۹۵-

۷۱- Prasad, op. cit. p. 63-

۷۲- Ibid, pp. 63-64

۷۳- کلیات- ص: ۵۹۵

۷۴- سبحان رائے- ایضاً ص: ۳۳ - ۲۳۲

۷۵- Prasad, op. cit. pp: 64-68

۷۶- Yahya bin Ahmad Sirhindi,
The Tarikhi Mubarak Shahi
Karachi. (Tr. K. K Basu) 1977. p. 23

۷۷- Ibid. p. 25

۷۸- Ibid. p. 27

۷۹- Ibid. pp: 30. 32

۸۰- ویلے کیږی چه سلطان ناصرالدین به دخپلے روزی کپلو



دپاره په کال کښے دوه قرآن شریف په خپل لاس لیکل او بیا به ئے هغه خرڅ کړل- یو ځل دده دلاس لیکلے شوے قرآن شریف یوه خوشامندګئ دلباری په زیاته بیعه واخستو- سلطان چه ددے نه خبر شو بیا دپاره دے په قرآن شریف خپل نوم نه لیکوالے اوکړه- دده د سادګئ یو مثال دا هم دے چه یو ځل دده بنځے د بادشاه نه دیوے وینځے دپاره سوال اوکړو- بادشاه ورته په جواب کښے اوویل وینځه خمانه مه غواړه- بیت المال دخلق دے- د الله تعالیٰ نه سوال اوکړه چه تاته ددے صبر جزا په بل جهان درکړی.

۸۱- Zia uddin Barni,
Tarikhi - Firoz Shahi
Lahore (Tr. H. M. Elliot) 1974. p-10

۸۲- کلیات- ص: ۵۹۶

۸۳- ایضاً-

۸۴- دے په بزمئ کښے د حده زیات تېر شوے وو- والئ چه دبلبن وراره ملک چهجو چه د کړه مانکپور حاکم وو بغاوت اوکړو بیائے په دهلی باندے حمله اوکړه- د شاهی فوځونو دلاسه ئے ماتے اوخوړه- او سره د ډیرو ملګرو ګرفتار شو او بیا ئے وژلے شو

دبغاوت سزا د مرګ نه کمه نه وه - ولے سلطان جلال الدّین مغه تول د بنده خلاص کړل او بیائے په عزت سره دځان سره کښینول او دا ئے ورته اووئیل چه تر پرون پورے نه هم دبلبن یوه غلام وو او نن په ځان کښے دا توان نه وینم چه د هغه د خپلوانو سره د بد سلوکی اوکړم - د دے وینا سره ئے په عزت سره پریښودل ۰

۸۵ Kishori Saran Lal,

History of The Khaljis

Karachi, nd. p.17

۸۶- Ibid PP: 177-190

۸۷- کلیات - ص ۵۹۶۰

۸۸- Saran Lal, op.cit. PP: 312-13

۸۹- Barni, op.cit, PP: 140-145

۹۰- Ibid. p. 151

۹۱- Stanley Lane-Poole,

India under Mohammadan Rule

London, 1915. p. 138



۹۲- S. Moin ul Haq,

Baranis History of The Taghlaqs

Karachi, nd. p:93

۹۳- کلیات ، ص : ۵۹۶

۹۴- H.M. Elliot,

Iuzahi Timuri (The Autobiography of Timur)

Lahore, 1974. P:57

۹۵- امیر تیمور خپله په (توزک) کښے وائی چه پنځلس زره ترک د دهلی په قتل عام کښے مشغول وو - تفصیلات اوګورئ "توزک" ص ۶۰

۹۶- Ibid

۹۷- Yahya sirhindi, op.cit. p.199

۹۸- Ibid. PP: 241-242

۹۹- کلیات - ص : ۵۹۶

۱۰۰- ارشاد ، ایضاً ص ص : ۷۸-۷۹

۱۰۱- Abbas Khan, op.cit. PP: 306-307

۱۰۲- Mohammad Saeed,

The Sharqi Sultant of Jaunpur.

Karachi, 1972. P.81

۱۰۳- Ibid. PP: 86-99

۱۰۴- Wathen and Garrett, op.cit

۱۰۵- Ahmad Yadgar, op. cit. p. 295.

۱۰۶- کلیات- ص ص: ۵۹۶-۵۹۷

۱۰۷- سبحان رائے، ایضاً ص: ۳۵۳

۱۰۸- د بابر وړومبۍ حمله په کال (۶-۱۵۰۵ع) کړې وه- هغه پلنے حمله کېنې تر ملتان پورې رسيدلے وو- دويمه حملهٔ په کال ۱۵۰۷ع کړې وه- درېمه حملهٔ په کال (۱۵۱۹ع) کړې وه، چه پکښې تر بهيره (پنجاب) پورې راغلے وو- څلورم ځل تر ديپالپور او لاهور پورې رسيدلے وو-

۱۰۹- Annett. S. Beveridge.
Babur - Nama (Memoirs of Babur) vol II
Lahor - 1975 p. 445

۱۱۰- سبحان رائے، ایضاً ص ص: ۳۵۵-۳۵۶ او بابرنامه ص: ۴۵۶

۱۱۱- N. Elias,
A History of The Moghuls of Central Asia (The Tarikh-i-Rashidi of Mirza Mohammad Haidar Dughlat,
London, 1972. PP. 477-478-





۱۱۲- Ishwari Prasad,
The Life and Times of Humayun
Bombay, 1956. PP: 222-223

۱۱۳- Abbas Khan Sarwani,
The Tarikhi Sher Shahi vol: II
Dhakka. (tr. S. M. Imamud Din), 1964, P. 154.

۱۱۴- سبحان رائے، ایضاً- ص: ۴۵۳

۱۱۵- Iqtidar Hussain Siddiqi,
Some Aspect of Afghan Despotism in India.
London, vol. PP. 70-71

۱۱۶- کلیات، ایضاً ص: ۵۹۷

۱۱۷- Jaffar. op. cit. P. 72

۱۱۸- د تفصیل دپاره اوګورئ- Abul Fazl,
Akbar Nama
Lahor, 1975. PP: 1-155

۱۱۹- S. M. Elliot,
Memoirs Of Jahangir
Lahore, 1975 P. 36

۱۲۰- David Price,
Memoirs of The Emperor Jehangiuer
Lahore ud, p. 18

۱۲۱- William Foster,
Early Travels in India (1583-1619)
Lahore, 1978.

۱۲۲ Mohammad Amin Kazwini,
Padshah - Nama
Lahore, 1975- pp. 6

۱۲۳- Jaffar, op. cit. pp: 239-240

۱۲۴- کلیات - ایضاً - ص : ۵۹۷-



# کتابیات

۱: الفت ، گل پاچا ،
ملی قهرمان خوشحال خان خټک
کابل ، ۱۳۴۴

۲: بټالوی ، سجان رائے
خلاصة التواریخ
لاهور - ۱۹۶۶

۳: خان ، خوشحال خټک
کلیات
پیښور - ۱۹۵۲

۴: د هلی کانیشه
نیو دهلی ن ،

۵: رشاد ، عبدالشکور
لودي پښتانه
کابل - ۱۹۵۷

سیال ، م ، ۶:
ایمل خان
کابل ، ت ن ،

محمد یوسف کاکاخیل ، عبدالروف نوشہروی ۷:
در شہوار
پشاور ، ت ن ،

Al Badauni, Abdul Qadir, ۸:
Munta Khib at Tawarikh vol: I
Karachi, 1976.

Amir Ali, Syed ۹:
The History of Saracens.
London, 1953

Babur, Zaheer ud Din Mohammad, ۱۰:
Babur Nama (Memoirs of Babur) vol I, II
Lahore, 1975

Barni, Zia ud Din, ۱۱:
Tarikh-i- Firoz Shahi.
Lahore, 1974



Beveridge, S. Annette, ۱۲:
Babur-Nama (Memoirs of Babur) vol II.
Lahore - 1975

Caroe, Olaf, ۱۳:
The Pathans.
London, 1964

Dani Ahmad Hasan, ۱۴:
Peshawar: Historic City of The Frontir.
Peshawar, 1969

Elias, N, ۱۵:
A History of The Moghuls of Central Asia (The Tarikhi Rashidi of Mirza-Mohammad Haidar Dughlat
London, 1972

Elliot, H.M. ۱۶:
Tuzaki Timuri (The Autobiography of Timur
Lahore, 1974

Elliot, S. M., :١٧
Memoirs of Jahangir
Lahore, 1975

Fazl Abul :١٨
Akbar Nama
Lahore, 1975

Foster, William :١٩
Early Travels in India (1583-1619)
Lahore, 1978

Garret and Wathen :٢٠
A History of India
Lahore, 1927

Haleem, Abdul. :٢١
History of The Lodi Sultans of Delhi and Agra
Dhakka, 1961

Hansan, Waldemar, :٢٢
The Peacock Throne: The Drama of Mogul India.
Great Britain, 1973.



Jaffar, S. M. :٢٣
The Mughal Empire: From Babur to Aurangzeb.
Peshawar, 1936

Kamil, Dost Mohammad Khan :٢٤
On a Foreign Approach to Khushal.
Peshawar, 1968

Kazwini, Mohammad Amin. :٢٥
Padshah-Nama.
Lahore, 1975

Khan, Ali Zulfiqar, :٢٦
Sher Shah Suri
Lahore, 1925

Khan, Khafi :٢٧
History of Aurangzeb.
Karachi, 1975

Lane-Poole, Stanley :٢٨
Medival India under Mohammadan Rule.
[illegible] 1912

:۲۹ Maha Jan, V.D,

*India since 1526*

Delhi, 1961

:۳۰ Moinal Haq, Syed,

*Baranis History of the Tughlaqs*

Karahi, nd

:۳۱ Prasad, Ishwari,

*A Short History of Muslim Rule in India*

Allahabad, 1963

:۳۲ -do-,

*The Life and Times of Humayun.*

Bombay, 1956

:۳۳ Price, David,

*Memoirs of the Emperor Jehanguier.*

Lahore, nd.

:۳۴ Rahim, M.A.

*The History of the Afghans in India (1545-1631)*

Karachi, 1964





:۳۵ Raverty. H.G

*Selections from the Poetry of the Afghans.*

London, 1862

:۳۶ Saeed, Mohammad.

*The Sharqi Sultanat of Jaunpur*

Karachi, 1972

:۳۷ Saran Lal, Kishori,

*History of the Khaljis.*

Karachi, nd.

:۳۸ Sarkar, Jadu Nath,

*History of Aurangzeb,*

Calcutta-1928

:۳۹ -do-,

*History of Aurangzeb: vol. III*

Karachi- 1968

:۴۰ Sarwani, Abbas Khan.

*The Tarikh-i-Sher Shahi, vol. II*

Dhakka, 1964

-do- ٣١

Tarikhi-Shershahi (The History of India)

Lahore, 1976

Siddiqi, Iqtidar Hussain, ٣٢

Some Aspects of Afghan Despotism in India.

London, nd

Sirhindi, Yahya bin Ahmad, ٣٣

The Tarikh-i-Mubarak Shahi

Karachi, 1977

Spain, J. W, ٣٤

The Pathan Borderland.

the Hague, 1963

Srivastava, M.P, ٣٥

Policies of the Great Mughals.

Lahore-1979.

Yadgar, Ahmad, ٣٦

Tarikh-i-Salatin-i-Afghana (The History of India.

Lahore, 1976



Yunus, Mohammad ٣٧

Frontier Speaks

Lahore - nd.